اوستایی مدنیت

د ۱۴۰۰ ق،م څخه تر ۷۳۰- نه تر ۳۳۰ ق،م پوری

مونږ یه لومړی ،دوهمه او دریمه برخه کې د لرغونی آریائی ژبې( آریک)لرغونی کلمات د
(پشائی)ژبې سره په پرتله کی وڅیړل او پرې وپوهیدو چې د وړاندی لرغونوزمانو یعنی د
(آریانا ویجه) څخه تر ویدا د کتاب تر لیکلو پورې، پشائی ژبه خپل ژوند او شته والی
څرګندوی. دا چې مونږ د پشائی ژبې ژوندی او مروج کلمات د آریک او ویدا پوری په
اړوندو زړو کلماتو کی کټ مټ او کله کله موپه ورته بڼه په لاس راوړل او دا راته څرګنده
شوه چی پشائی ژبه تر ویدا د آریائیانو دلرغونی کښل شوی کتاب تر کښلو پورې ژوندۍ
وه او ښائی چی دواړه ژبې ،هماغه یوه ژبه (آریک – پشائی) وی ،دا په دې خاطر چی
پکې کښل شوی نومونه کټ مټ (پشائی- آریک )دی تر دی ځایه چې کومه څیړنه وشوه،
داراته په ډاګه شوه

چی پشائی ژبه یوه لرغونۍ آریائی چې تر اوسه پوری دآریائیانو په لرغونی ټاټوبی د
هندوکش دغرونو په سویلی لمنو کی د هماغه لومړی پیل څخه نیولې تر نن پوری یوه
ژوندۍ او د پشائیانو دخبرو اترود ګیلو او قصو او دغم او درد یوه دردیدلې کړیدلی ،خواره
زاره او ورځ تر ورځی ویلې کیدونکی او کوچنی کیدونکی ژبه ده چی دپشائی ژبو لخوا
ویل کیږی،چی په بلخ وئی هم ژبی نسبت شوی او ورته پښائی وئی ویل کیږي چې د ویدا
دکتاب لرغونی وییونه ئی پخپله ژبه کې تر اوسه پوری ژوندی ساتلی دی.
دا چی د اوستا کتاب هم یو تاریخی لرغونې آریائی کتاب دی ،چی اوستا پوهانو پکې ښی
ښی پلټنې کړیدی. د پوهانود پلټنو په پایله کی دا جوته شوې ده، چی اوستا د اریائی
باختر او بخدی یوه زړه ژبه ده او ویل کیږی چې په باختر کی ځوانی ته رسیدلې ده.
اوس زه غواړم چې پشائی ژبه د اوستا د ژبی سره په پرتله کې وڅیړم تر څو د پشائی
ژبې ژوندیتوب دزردشت په دینی کتاب د اوستا په زمانه کې څرګند کړم. ددی کار لپاره

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

پکار دی چې د اوستا د ژبی لرغونی وییونه چی د پښتو د ادبیاتو په تاریخ کی راغلی دی او د پښتو ژبه ورسره په پرتله کی خیړل شوې ده،په خپل وارد اوستا په کتاب کی راغلی کلمات د پشائی ژبی دکلماتو سره په پرتله کې وڅیړم .او دا څرګنده کړم ،چی پشائی ژبه لا د اوستا په زمانه کی هم یوه مقتدره ، قوی او ژوندۍ ژبه وه. ددی ټکی د ثبوت لپاره به زه لومړی پخپله د ( اوستا) نوم ،چی اوستا پو هانو پکی ژورې او زړه پوری پلټنۍ او څیړنې کړیدی اوخپل نظریات ئی دنوموړی نامه په هکله ورکړیدی څرګند کړم ،چی د اوستا دنامه څیړل زما دڅیړنیز کار پیل جوړوی او وروسته له هغې څخه به زه یواځې هغه نومومونه چی د اوستا د زمانې پورې اړه لری یو د بل سره به ئی په پرتله کې وڅیړم او بیا به ئی ښاغلو اوستا پوهانوته او د آریائی لرغونو ژبو ژب پوهانو ته به ئی وړاندی کړم. زه د ژبی د قواعدوداصولوسره کوم کارنلرم ،یواځې غواړم د کلماتوهغه اړخ وڅیړم کوم چی،د لغاتونو د ریښې پوری اړه لری یعنی د لغت ریښه په پشائی ژبه کی او د هغې پرتله د اوستا یا د بلې کومې لرغونې آریائی ژبې سره.

پر ځای به وی چی لومړې د اوستا ژبې یا زند په هکله یو څه تاریخی معلومات وړاندی شی.

اوستا یا زندAvesta،Zend :

)دا ژبه په باختر کې له اصلی آریائی ژبې څخه د ویدی ژبې سره یو ځای او غبرګونی وزږیده،نویې باختری ژبه هم بولی ،اوستائی له دی جهته بولی چې د اوستا د کتاب پخوانی او خورا زوړ ټوک «ګاټه»په دغه ژبه لیکل شوی دئ.دغه ژبه (زند) بلل کیږی.

مدقیقین وائی: د اوستا ژبې چی ګاټه پری لیکل شوی دئ او دویدا ژبی ډیر فرق نشته او په جزوی اړولو اوتبدیل چی معین اصول لری،دیوې ژبی یوه خبره په ها بله ژبه اړولای سو.

د اوستا ژبی په روحانی ډله او مقدسو کتابو اړه درلوده ،او بیله پخپله اوستا بل کتاب او لیک په دغه ژبه ندی پاتې ،که څه هم چی د اوستا کتاب او د زرد شت دین په ایران کې خپاره سول،مګرترایرانی هخامنشی دوری (۷۳۰- ۳۳۰ ق م)وروسته چی سکندر پر ایشیا

(c) ketabton.com: The Digital Library

مسلط شو،نو د اوستا نسخې هم ورکې شوې مګر وروسته بیا د اردشیر ساسانی (۲۱۱-۲۲۶ ع)په امراوستا راغونډه شوه ،نو له دغه جهته اوس داوستا زوړ متن ندی پاتې ،فقط د ګاټه برخه ئی زړه او د زردشت قول بلل کیږی.

دا ژبه اوستا بلل کیږې،چې شرح ئی وروسته راځی ،په حقیقت کی زند د اوستا پهلوی شرح وه،چی وروسته دا دوه نومونه په ګډه «زند اوستا» د متن په اصلی ژبه اطلاق شوه،که نه وی پخپله زند د اوستاد تفسیرژبه ،یعنی پهلوی ده .دی پهلوی تفسیر یو بل تفسیر هم درلود ،چې هغه د (پیتی ،زنتی)یعنی (مکررتشریح ) یا (پازند)بولی.ددی تفسیر ابهام تر پهلوی لږ دی او هم ئی رسم الخط واضح دی ، (پازند ) له پهلوی څخه لږ څه بیلتون لری او ټول کتب چې پکی موجود دی،د پهلوی نسخو تفاسیر او شرح دی.

ددی ملاحظاتو څخه داسی ښکاری چی لومړنی اوستا چې د زردشت دعصر ژبه وه ،او د اوستا کتاب پری کښل سوی وو،ورو ورو له باختره شاو خوا خپره سوه ،په ایران کې زړه پاړسو(فرس قدیم)رواج سوه وروسته پهلوی ژبه او پازند ځنی راووتې په حقیقت کی اوس د زړی باختری اوستائی ژبی اثار ندی پاتې . ګاټه چی د اوستا یو ټوک دی د محققینو په قول هغې زړې باختری اوستا ته نژدی دی ).(148(

)باختری اوستا هغه کتاب ؤ،چی زردشت په بخدی کی وکیښ او د هغه وخت باختری پاچا ګشتاسپ دده دین ومانه او ټول د زردشت قوانین ئی دِغویو پرخرمن وکښل او هری خواته ئی ولیږل) .(149(

تر دی ځای پوری د اوستا دکتاب په هکله ،چی زمونږ په ګران هیواد افغانستان کی لیکل شوی او د لرغونو آریائیانو د زردشت پیغمبر پوری ئی اړه درلوده ،د نوموړی کتاب د ډیرو مشرحو معلوماتو لپاره ښائی دپښتو د ادبیاتو تاریخ ته مراجعه وشی.څرنګه چی مخکی می هم یادونه کړې،چې زما کار یواځی د اوستا او د اوستا پوری ورته کلماتو سره ،چې د پوهانو لخوائی یادونه شوې څیړم.

د اوستا پوهانو د اوستا د نوم په هکله زړه پوری څرګندونی کړیدی،ددی لپاره چی زما د څیړنی موضوع ښه بشپړه شی ،ښائی چی لومړی د اوستا دنوم په هکله د پوهانو نظریات

(c) ketabton.com: The Digital Library

راټول کړم او ورپسې به خپل نظرد اوستا د نامه په هکله د پشائی ژبی له پلوه د اوستا محترمو پوهانو او څیړنکی ته په پرتله کی وړاندی کړم.

د اوستا کلمه:

)ترهرڅه دمخه به د اوستا نوم تر تحلیل او څیړنې لاندی راولو،د مخه در ښکاره سوی ده ،چی دا کلمه ډیره زړه ده او دآریائی باختر له پخوانو اثارو څخه ده.

ددی کلیمې په معنی او لغوی تحلیل پوهان ډلی ډلی دی،هر چا یوه توجه ورته کړیده او اشکا ل ئی هم مختلف را نقل شوې دی،اوستا،ابستا،استا،ادستا،افستا،اپستاد پهلوی شکل ئی (اوپستاک)دئ چی ډار مستېر(اپستاک)زکر کړیدی(ضبط)په سریانی ژبه (اپستاګا)او په عربی کی (ابستاف)دی او لکه محققین چی وائی:

ددی نامه ذکر دساسانی دورې د مخه په بل اثر کی نشته ؛فقط یو عالم اوپرت دا عقیده لری ،چی دداریوش د بیستون په ډبر لیک کی(۴)لیکه (۴۶)فقره کی چی ابستام راغلی ده دغه کلمه ده.

په هر صورت اوس خو دغه کلمه ډیره مشهوره ده او دمانا په خصوص کی ئی دا لاندی اقوال سته.

)۱(پروفیسور ګلدنر له پروفیسر اندرس څخه هسی نقل کوې ،چی د اوستا کلمه له پهلوی (اوپستا)څخه مشتق ده ،چی معنائی (اساس بنیان او اصلی متن )ده.پروفیسور بارتولمه او ویسباخ دغه کلمه په اوستا او هخامنشی ډبرلیک کی د (پناه او کومک)په معناوو راوړی.

یو بل مشهورعالم جیکسن د نیویارک دکلومبیا د کالج پروفیسوروائی،چی د اوستا اصطلاح له اوستاک څخه راوتلی ده ،چی دا کلمه په ساسانی دوره کی عموماً مستعمله وه ،مګر دا نده معلومه ،چی اصلی معنا ئی څه ده ښائی چی پهلوی اوستاک،لکه د سنسکریت ویدا غوندی د(پوهی دانش اوعلم)په معنا وی یا ښائی چی معنائی اصلی متن وی یا قانون.

)۳(په شرقی کتابونو اوقاموسونو کې هم اوستا راوړې،مثلاًددساتیر اسمانی په فرهنګ کې لېکی:

»اوستا به فتح اول و ثانی نام کتابیکه به حضرت زردشت نازل شده و معنی ان بهین

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستایش ومهین نیایش وستا بکسر اول مخفف اوستا ست.«
فرهنګ نظام لیکی:اوستا کتاب دینی زردشت پیغمبر ایران است اسیری لا هیجی ګوید ،
علم معنی از کتاب اوستا حا صلت ناید مکش چندین عنا
اسد طوسی په لغات فرس کی لیکي : استا،وستا،ابستا تفسیر زند است ، خسروی ګفت:
چو ګلبن از ګل اتش نهاد و عکس افګند بشاخ او بر،دراج ګشت ابستا خوان
)۴(اووپرت هسی لیکی: د اوستا کلمه اساساً دابستا د فارسی کلمی څخه جوړه سویده ،چی معنا یې قانون دی.
)۵ (ځنی نور پوهان دا عقیده لری ،چې اوستا د مجهول اونا مفهوم معنا لری او دوې ټوټې کلمه ده ،لومړی ټوټه ئی(آ) یعنې «نه»؛دوهمه ټوټه«ویستا»یعنی دانسته ده ،چی مرکباً«نامفهوم»او مجهول او نا دانسته ده،چی مرکباً«نامفهوم او مجهول او نا دانسته»ورته وایی.
او ددی نامه وجهه تسمیه هم داسی بیانوی: چی اصلی باختری اوستا دوی نسخی وی او دغه نسخی دسکندر په تاړاک کی ورکی او تالا شوې،وروسته چی په پارتی اوساسانی دورو کی د اوستا د کتاب دوهمه پلا ټولونه شروع شوه،نوی خطی ټوټی هسی وی،چی څوک نه په پوهیدل ،نوئی « مجهول او نا مفهوم» وباله(۱۵۸-۱۵۷.(
دا چی اوستا یو لرغونې آریائی نوم دی .ډیر و اوستا پوهانو دنومونړی نوم په هکله ډیری نبې او ژوری پلټنی اوخیړنې کړی دی او د نوموړی کلمی په هکله د پوهانو ځانګړی نظریات ،چی یو د بل سره په توپیر کی دی او د پوهانو د نظریاتو توپیر مونږ ته را په ګوته کوی ، همدا شان په لر غونو قاموسونو کې هم د اوستا دنامه یو شانته والې دمعنا له پلوه نه څرګندیږی.
ددی لپاره دنوموړی لرغونی آریائی مذهبی کتاب په هکله ،چې په زردشت آریائی پیغمبر باندی نازل شوی دی د اوستا د نامه د پوره څرګندونی په خاطر مونږ تاریخی سندونو ته اړتیا لرو تر څو وکولای شو د هغوی په رڼا کی د اوستا د نامه پر ځای معنا ،مفهوم او همدا شان که ممکنه وی د نوموړی نامه څټه را پیدا کړو. ددی کار لپاره مونږ د پوهانو

(c) ketabton.com: The Digital Library

نظریاتو ته ډیره اړتیا لرو .تر څو د پوهانو نظریاتو په رڼا کی وکولاې شو اصلی مقصد ته یو څه په علمی ډول سره ورنږدی شو.

اوس د نوموړی لرغونی آریائی نوم د راتلونکې څیړنې په خاطر په ځای ئی بولم ،چې په پښتو کی د اوستا په هکله دغه لاندی نظریات ولیکم.

په پښتو کی اوستا:

)د اوستادکلمی په شرح اومفهوم کی د پوهانو له مفکورو څخه لوړی څیړنی مختصرآ را نقل شو یدی،په

پښتو کی هم تطبیق مومې ،او لکه د ویدی ژبې ډیر کلمات چی په پښتو کی وکتل سوه،دا کلمه هم په پښتو سره په دوه ډوله برابریږی:

)۱(دپنځمی مفکورې خاوندانو اوستا په نامفهوم ترجمه کړیده او دا نظریه اسلامې مورخینو هم منلی ده ،مثلآ علی ابن الحسین مسعودی اسلامی مورخ چی په(۳۴۵ هجری)وفات سویدی ،په (۳۳۲ )هجری کال هسی لیکې:

زردشت بل استیمان و هوالنبی ا لمجوس الذی اتاهم با ا لکتاب ا لمعروف باالزمزمه عند عوام الناس و اسمه ،عندالمجوس بستا ....... معجم هذالکتاب یدورعلی ستین حرفا من احرف العجم،ولیس فی سایرالغات اکثر حروفا من هذا واتی زردشت بکتابهم هذا بلغت یعجزون عن ایراد مثلها،ولا یدرکون کنه مرادها وکتب هذالکتاب فی اثنی عشر الف مجلد بالذهب فیه وعد وعید و امرونهی وغیر ذالک من الشرایع والعبادات ،علم نزل الملوک تعمل بما فی هذالکتاب الی عهدا لسکندروماکان من قتله لدارابن دارا ،فا حرق الا سکندر بعض هذالکتاب ثم صارالملک بعدالطوایف الی اردشیر بن بابک فجمع الفرس علی قوت سورت منه یقال لها (استاه).....ثم عمل زرادشت تفسیرآعند عجز هم عنه فهیه وسموللتفسیرا (زندا)ثم عمل التفسیراوسما (پا زند)ثم عمل علمآئهم بعد وفات زرادشت تفسیرالتفسیر وشرحآ لسایر ما ذکرناه وسموا هذا التفسیر(بارده.(

ترجمه: زرادشت د استیمان زوی دمجوس نبی دی ،چی دوی ته ئی د ابستا کتاب راووړ ،دا کتاب عوام وګړی زمزمه بولی ،(۶۰)حروف لری،چی په اکثرو نورو ژبو کی ډیر دغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

حروف نسته .زردشت دغه خپل کتاب په داسی ژبه راووړ چی بل چا هغه نسوای لیکلای او نه ئی څوک په مراد پوهیدل ......دا کتاب په دوولس زره ټوکه کې په زرو ولیکل سو،وعد او وعید امر او نهی او نور شرایع او عبادات پکښی وو،پا چاهانو د سکندرتر وخته په دی کتاب عمل کاوه ،مگر هغه وخت چی سکندر دارا مړ کړ ،نویی ددی کتاب ډیری برخې وسوځولی،وروسته ملوک ا لطوایف راغلل ،بیا چی اردشیر د بابک زوی پاچا شو،نو ایرانیان ددی کتاب د یو صورت په ویلو متفق سول چې استاه یی باله ......په دی ډول مسعودی مورخ د اوستا نا مفهوم توب بیانوی او دا خبره نور مورخین هم منی،مثلآ ابن اثیر پخپل کتاب (الکامل فی التاریخ )کی هسی وایی:

چی زردشت یو کتاب (استا- ابا ستا) راووړ او هری خواته ئی واستاوه ،څوک ئی په معنی نه پوهیدل او مضامین ئی درک نه کړل....

له دغو ټولو څخه دا سی ښکاری چی اوستا حقیقتآ نا مفهوم وواو ډیر نور تفاسیر چی پر ولیکل سوه،علت ئی دغه وو ،چی د کتاب متن گران او مجهول و،دغو خبرو تر نږدی وختو پوری هم شرقی پوهانو ته معلومه وه ، حتی دوی د اوستا کتاب یو راز( رمز)هم گاڼه ،لکه چی د دبستان مذاهب مولف هم په دی باب کی په ښکاره لیکی :«کتاب ذند بر دو قسم است ،یک قسم ان صریح وبی رمزکه انرا (پازند) نیز میگفتند ،و قسم دوم رمز و اشارات که انرا( زند) هم میخواندند.«

د اوستا په خصوص کی دپنځمی مفکوری د خاوندانو لپاره دا ټول تاریخی دلایل موجود دی او که مونږ له دغه نقطه نظره د اوستا کلمه تحلیل کړو ،نو سمه راځی( ،په دی ډول دا نوم مرکب دی له دوو ټوټوڅخه

)ا- وستا(

-یعنی مفتوح همزه په آریائی ژبو کی د(نافیه)(نا) په معنا راځی ،په سنسکریت کی هم عام دی ،الف په) Aی)هر وخت اوړی،(آ) په (یه- یا) هم ویلای سو،چی اوس د قندهار په پښتو کی کټ مټ (نه- نا)په معنا د نفی لپاره دی.مثلآ احمد راغلی دی ،یه ندی راغلی رد خلیل خان نیازی په دی رباعی کی (یه) دنفی په معنا واضح شویدی:

(c) ketabton.com: The Digital Library

بړغ کا بیلتون له لاسه خړی ا وریځی ژاړی له پاسه کویله
یه،هغه لونی ګوهر په خول ستا دا مرحبا کا ستا زمونږ مواسه
دویم جزو (وستا)له پښتو (ویستل)څخه جوړسوی دئ،چی معنی ئی ده (استخراج)(دباندی ویستل)ددی مصدراسم مفعول (ویستلی او ویستی)دی او پخپله (ویستا) کلمه هم په زند ژبه کی اسم مفعول دی .نو ویستا داسی معنی لری،نا استخراج شوی نا مفهوم ،که په اوسنی محاوره کی داکلمه ووایو (یه ویستی)یعنی (نا ویستی)او نا مفهوم به وی،چی کټ مټ هغه (اوستا ) هم دغسی ده.
د اوستا کتاب دبخدی او باختر څخه راوتلی دی نو لکه پخپله د بخدی کلمه چی د پکهت ،پښت او پښتون سره نښتی ده،د اوستا نوم هم دغسی له پښتو سره اړه لری ،او ددی کتاب نامفهوم توب د سیری لا هیجی له هغی ذکر سوی پارسی بیته هم ښکاری ،ځکه چی دا وائی :له اوستا څخه معنا نسی درک کولای ،بیهوده زیار مه کاښه ،د پنځمی مفکوری له رویه خو د اوستا کلمه په دی ډول تجزیه سوه (ا– ویستا )،هم که ددریمی نظریی له مخه د شرقی لیکوالو په قول اوستا (بهین ستایش اومهین نیایش)وګڼو نو به ئی په پښتو کی داسی تحلیل کړو:
اوستا دوی کلمی دی ،(ا — ویستا)لومړی جزوی (همزه) او(واو) دی حمزه حلقی حرف دی او ډیر ځله (ہّ)سره بدلیږی ،مثلاً هلک– الک؛هګی –اګی او نور د سنسکریت دکلمی په تحلیل کی تاسی ولوستل چی په هغه ژبه کی (سو)د ښه په معنی دی ،ځکه چی د سنسکریت(س)په اوستا کی تل په(ه) اوړی ، نو( سو) په اوستا کی (هو)شو په پاړسو کی (ه) (خ)کیږی ، لکه حوارزم چی خوارزم سوی دی په پښتو کی دغه د اوستا (هو)په (او) بدل سوی دی ،دداریوش په ډبر لیک کی (او اسپ) یعنی ښه اس (اومریتا) یعنی ښه سړی راغلی دی (ا)او پخپله (هو)هم په پښتو کی د ایجاب کلمه ده ،چی اوس هم ژوندۍ ده،او هغه «ښه» معنی لری.
دوهم جزو: چی (ستا )دی ریښه ئی (س–ت)دئ چی له دی څخه د پښتو(ستایل،ستاینه،ستانه)د پاړسو (ستایش،ستودن )راوتلی دی .ستایوال هم په پښتو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستایش کننده ته وائی.
امیر کروړ سوری چی د پښتو خورا پخوانی شاعر او ادیب دی ،پخپله حماسه کی وائی:
نړۍ زما ده نوم مې ستایی پر دریځ ستایوال ؛په پهلوی کی هم د «ستا»ریښه وه،اسد طوسی لیکی:
چی «افد ستا»ترکیب دی له افد یعنی شگفت او«ستا» یعنی ستایش څخه،لکه دقیقی چی وائی:
جز از یزد تو ام خداوندی کنم از دل بتو آفد ستا
له دی څخه معلومیږیچی له پخوا څخه دا ریښه په پښتو او نورو آریائی ژبو کی وه ،نو له دغه جهته ویلای سو،چی داوستا دکلمی دوهمه ټوټه( ستا) له دغو ستایلو څخه ده .په دی ډول چی اوستا پخپله د اوستا ژبی په اصطلاح (هوستا)او په پښتو په (اوستا)یعنی (ښه ستاینه)اوهغه د بهین ستایش او مهین نیایش،سی،چی دا لغوی تحلیل هم داوستا دکلمی ریښی په پښتو کی څرگندوی).۱۵۸
اوس چی مونږ د اوستا دنامه په هکله داوستا پوهانو نظریات ولوستل اود هغی سره په څنگ کی مو د پښتو ژبی له پلوه څیړنه ولیدله.
غواړم دنومورو څرگندونو په لړکی دلرغونی آریائی کلمی (اوستا)په هکله د پشائی ژبی له پلوه خپل نظر په پرتله ایز ډول څرگند کړم.
داوستا نوم د پشائی ژبی له پلوه:
اوس چی مونږ دلرغونی آریائی کلمی د اوستا د نامه په هکله د ډیرو ژب پوهانو نظریات او څرگندونی په تیرو مخونو کی ولوستل ،دا راته څرگنده شوه،چی د پوهانو نظر د اوستا دنامه په هکله یو د بل سره توپیر لری.حتی د اوستا دنامه اشکال ئی یو د بل سره ورته نه ښکاری .هر یوه پوه نوموړی کلمه دخپلو ژبو په بنسټ لیکلی ده،چا پکی توری ډیر کړې او چاورڅخه لږ کړې دی،یائی په بل شکل لیکلې دی د بیلگی په توگه د اوستا د کلمی لاندی ډولونه وگوری.
اوستا،ابستا،استا،آوستا،افستا،اپستا،اوپستاک،اپستاک،اپستاکا،اوستاگ،ابستام او نور.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوس چی دا وستا دکلمی په څانګړو اشکالو وپوهیدو ښئ چی هره یوه کلمه په ځانګړو ژبوکی په ډیرو نورو او ورته نومونو تلفظ او ولیکل شې .او د نوموړی کلمی اشکال لا زیات کړی اوکه نه نو نوموړی کلمه د اوستا په ژبه کی یوه ده او همدارنګه د یو مذهبی کتاب نوم دی.خو کله چی د پوهانو په لاس کی پریوتی هر چا د خپلی ژبی دحروفو او ګرامرد قواعدو په بنسټ لیکلی او بیائی مانا کړی دی،چی د څیړنی کار ئی لا پسی دروند او سخت کړیدی.دبیلګی په توګه داو ستا د کلمی د ماناپه هکله نظریات داسی دی.

–دلومړی ډلی پوهان داسی نظر څرګندوې چی،د اوستا کلمه دپهلوې (اوپستا)څخه مشتق شوې چی مانائی(اساس بنیان او اصلی متن دی)او څوک ئی د (پناه او کومک )په ماناوو یادوی.

–ددویمی ډلی پوهان داسی عقیده څرګندوی چی ،د اوستا کلمه له اوستاک څخه وتلې ده او وائی چی دا کلمه په ساسانی دوره کی عموماً مستعمله وه ،په پای کی وائی ، مګر دا نده معلومه ،چی اصلی مانا ئی څه ده ؟ همدا ډول نظر څرګندوې چی نوموړی کلمه لکه د ویدا د کتاب په څیر د پوهنی،علم،دانش په مانا دی .همدا ډول په شک سره وائی ،چی معنائی اصلی متن یا قانون دی.

که چیری د دوهمی ډلی پوهانو نظریات په زیرسره وګورو،لومړی خپل نظر داسی څرګندوی اووائی چی اصلی مانا ئی څه ده ؟ ورپسی ئی د علم او دانش،پوهی داصلی متن او قانون په نوم مانا کوې او دکلمی د ریښی په هکله هم په تردد او شک کی دی کله ئی د اوستاک دکلمی څخه ګڼی او کله ئی د ویدا د کتاب په څیر دعلم دانش او پوهی په مبهم مفهوم یادوی

د اوستا دنوم په هکله داسی ویل کیږی چی،په شرقی کتابونو کی هم اوستا راوړی او د هغی مانا ددساتیر اسمانی په فرهنګ کی داسی کوی «اوستا به فتح اول وثانی نام کتابیکه به حضرت زردشت نازل شده ومعنی ان بهین ستایش ومهین نیایش و ستا به کسر اول مخفف اوستا است.«

همداشان په فرهنګ نظام کی لیکی:«اوستا کتاب دین زردشت پیغمبر ایران است اسیر

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاهیجی ګوید.

علم معنی از کتاب اوستا حاصلت ناید مکش چندین عنا

لکه مخکی مو په دریمه برخه کی هر څه په تفصیل سره لیکلی دی،چی د اسد طوسی په لغت فارسی کی راغلی استا، وستا،ابستا تفسیر زند است،خسروانی ګفت:

چو ګلبن از ګل اتش فتاد و عکس افګند بشاخ اوبر دراج ګشت ابستا خوان

په دریمه برخه کی داوستا د کتاب په هکله هم د فرهنګونو معناوی یو د بل سره ورته نه ښکاری د اسیر لاهیجی او د اسد طوسی د بیتونو څخه بیا هم مونږ د اوستا دنوم په هکله د ابهام څخه څه نه شو تر لاسه کولای،چی دا ډول نظریات د نورو څیړونکو لاره په یوه ستر او بی لاری ځنګله کی تیروی.

-دخلورمی ډلی نظر داسی دی چی وائی«د اوستا کلمه اساس له ابستا فارسی کلمی څخه جوړه سویده چی معنا ئی قانون دی.«

چی څلورمی ډلی نظر هم لکه د نورو دری برخو په شان یو مشخص او لار ښوونکی نظر ندی په دی خاطر چی د قانون کلمه په څو نورو پرخو کی هم یاده شویده.

-دپنځمی ډلی پوهان هم د اوستا نوم د(مجهول او نا مفهوم)په معنا بولی.

همدا ډول په پښتو کی اوستا هم د پنځمی ډلی پوهانو په شان توضیح او تشریح شوی چی د اسلامی مورخینو لخوا هم د نامفهوم او مجهول په معناوو معنا شویده .اوس چی مونږ د لرغونی آریائی نوم اوستا په هکله د محترمو ژب پوهانو څیړنی او نظریی ولوستلی او پری پوه شولو چی د اوستا کتاب د پوهانو اود فرهنګونو لخوا په یوه مشخص او ټاکلی مانا ندی مانا شوی او هر چا بیله بیله مانا ورکړیده .چی په پایله کی مونږ د نوموړو نظریاتو او ماناوو څخه هډو یوه مانا یو شکل او یو تلفظ نشو تر لاسه کولای او د اوستا د نامه هغه اصلی آریائی مانا کومه چی د دین ،مذهب او ددعوت مانا لری . نه شو کولای چی ورڅخه یوه ګډه مانا تر لاسه کړو او پری خپله تنده ماته کړو او داسی ناګڼلی مانا ګانی له مونږه څخه لاره ورکوی.

تر کوم ځای پوری چی پوهیږو،دینی کتابونه تل د بلنی (دعوت) مانا ورکوی چی په هغی

(c) ketabton.com: The Digital Library

کی مذهبی چاری او نوری لاربنوونی وی او پکی د یوه دین څخه و بل دین ته د خلکو هڅول او راګرځول او د هغوی رابلل وی ،د نوی دین او مذهب لوړوالی په نورو ادیانو ښودل، نوی دین د زمانې د غوښتنو سره برابرول ،زاړه او تیر ادیان منسوخول په نوی دین او مذهب کی نوو پر مختللو موضوعاتو ته ځای ورکول ،ددنیا او اخرت په اړوند د پشر لپاره ګټوری لاربنوونی د پخوانو او زړو عقایدو جرړی ویستل او بشر ورباندی معتقد کول او پر ځای ئی نوی او زړه پوری لاربنوونې په علمی او عقلی ډول منل او پر زړو تاریخی کنډوالو نو ی اوښکلی زړه پورې ماڼۍ ودانول دی چی دا ټول او ټول دپشائی ژبی د (اوستا)په ترکیبی نامه (دعوت ا و بلنه) کی نغښتی دی.

څرنګه چی د اسلام په دیانت کی د یولک او څلورویشت زرو څخه دزیاتو او لړو پیغمبرانو یادونه کیږی ورسره یو ځای د هغویو ادیان هم زمونږ په زهن کی را مجسم کیږی ،چی یو د بل ځای ناستی شویدی په دی شرط سره چی هغوی به په خپل وار خپلی برترئ ښودلې وې ،چی دا کار به ټولو بی له شکه په دعوت کړی وې چی د زردشت پیغمبر په وخت کی به دا کاربی له شکه د (اوستا)دکلمې په مرسته شوی وی چی په (عربی )ژبه کی ورته(دعوت)او په لرغونئ آریائی ژبه( پشائی) کی ورته نن هم (اووستا) وائی دا دعوت به تر سره شوی وې.

لکه چی څرګنده ده هر نوی دین د خپل پاینښت لپاره خپلې ستنې ټینګوې ،همدا ډول زوړ دین د نوی دین په وړاندی دنه منلو ټینګار کوې او هر یو دخپلو برتریو یادونه کوې ،د ژوند تر پایه هر یو خپل ځان پر بل اوچت ،پر حق او ځان لوړ ګڼۍ او خلک خپل دین ته رابولې ،چی بیا هم د( بللو- دعوت،اوستا)کلمه او مفهوم پکی له ورایه ښکاری ،په دی خاطر مونږ ویلای شو ،چی دهر یوه دینی کتاب په دننه کی د(بللو،دعوت، اوستا)مانا او مفهوم نغښتی دی،چی په خپل وار د (اوستا–اووستا)دننه په مغز کی د(بلنې)بشپړ مفهوم پروت دی. د نوموړی مفهوم د رابرسیره کولو په خاطر،په خپل وار غواړم د(اوستا) د نوم په پښتو کی د (بلنې) مانا او په عربی کی د(دعوت) مانا اومفهوم په پشائی ژبه کی د اوستا د ښاغلو ژب پوهانودنظریاتو په وړاندی په بشپړ ډول د رینبو سره یو ځای وړاندی کړم

(c) ketabton.com: The Digital Library

.تر څو د( بلنې )یعنی د (دعوت)دکلمی پشپړه مانا او مفهوم ورڅخه څرګند او په ډاګه شی
او د اوستا پوهانو تنده پری ماته شی.
دا چی د اوستا لرغونې آریائی کلمه لکه د (ویدا) آریائی کلمه زمونږ په ګران او لرغونی
هیواد افغانستان کی زږیدلې خاپوړې ئې کړیدی ،لویی شویدی او وروسته دلرغونو
آریائیانو د مقدسو کتابونو په څیرڅرګند شوې او د آریائیانو لخوا دزرګونو کلونو په اوږدو
کی ورته درناوی شوی دی.
څرنګه چی د ویدا دکلمی او د لرغونی آریائی کتاب په هکله په پشائی ژبه کی دپرتله
کولو په وخت کی پوره څرګندونی شویدی اودا جوته شویده چی دویدا کلمه د یوی
لرغونی آریائی کلمی په توګه په پشائی ژبه کی ژوندئ ده او بنائی چی ژوندئ هم وې ،دا
ځکه چی زمونږ په ګران هیواد افغانستان کی پشائی ژبه او د ژبی ویونکی دلرغونو زمانو
څخه تر نن پوری اوسیدلې او اوسیږی او په خپلې خوږی مورنی پشائی ژبی غږیږی ،نو
بنائی ،چی د (اوستا) کلمه هم لکه د(ویدا )کلمه په پشائی ژبه کی ژوندی او موجوده وی
.ددی ټکی دثبوت په خاطربنائی چی د اوستا کلمه چی وروسته پری د کتاب نوم ایښودل
شویدی ،د پشائی ژبی له پلوه په هراړهیز او بنستیز ډول وڅیړل شی او محترمو اوستا
پوهانو ته د ژوندیو مثالونو په وړاندی کولو سره په ربښتینی توګه وروښودل شی. ترڅو ئی
څیړنیزې تندې ماتی شې او په سړه سینه دخدای شکر ادا کړی،دا په دی خاطر چې
دتاریخی سرګردانی څخه لاس په سر شی.
آوستا په (پشائی) ژبه کی:
داوستا دپوهانو دنظریاتو څخه دا څرګنده شوی چی اوستا ژبه لکه د (ویدا) ژبه په
باخترکی دزړی اواصلی آریائی ژبی څخه یو ځای او غبرګونی زږیدلې دی ،نو له دی کبله
د اوستا ژبه د با ختری ژبی په نامه یادیږی. د څیړونکو له نظره چی وائی : داوستا اودویدا
دژبی یو دبل سره دومره توپیر نشته او په جزوې اړونې او تبدیل سره د معینو اصولو په
کارولو سره دیوی ژبی یوه خبره په بله اوړی.
پوهان په دی باور دی چی ،چی د اوستا کتاب اوژبی په مقدسوکتابو اړه درلوده او بی له

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوستا بل کتاب او لیک په دی ژبه ندی پاتی.
د اوستا کتاب د اوستا په ژبه لیکل شوی دی ،لومړنی اوستا چی د زردشت د عصرژبه وه ،د زردشت له خوا زمونږ په لرغونی هیواد د افغانستان په بخدی کی ولیکل شو .او د هغه وخت باختری پاچا گشتاسپ دده دین ومانه او ورو ورو له باختره شاوخوا خپور شو ،په ایران کی زړه پاړسو(پارس قدیم )رواج شوه ،وروسته پهلوی ژبه او پازند ځنی راووتې:
همدا شان څیړونکی خپل نظر څرګندوي او وائی چی: اوستا ژبه یا زند په حقیقت کی زند د اوستا د کتاب پهلوی شرح وه ،چی وروسته دا دوه نومونه په ګډه «زند اوستا» د متن په اصلی ژبه اطلاق شوه ،که نه وی خپله زند د اوستا د تفسیر ژبه یعنی پهلوی ده.
همدا ډول وائی چی: دی پهلوی تفسیر یو بل تفسیر هم درلوده ،چی هغه (پیتی،زنتی) یعنی (مکرر تشریح)یا (پازند )بولې.
دا چی مونږ د پوهانو او څیړونکو د نظریاتو څخه پوه شوو،چی د اوستا ژبه په باختر کی د زړې اصلی آریائی ژبی څخه زیږیدلی ده .ښائی چی په باختر کی یعنی زمونږ په ګران او لرغونی هیواد افغانستان کی د اوستا د ژبی مور ژوندی وې یا داچی خپله اوستا ژبه ښائی په خپل ټاټوبې کې پاتې وې ،دا په دی خاطر چی میندې تل په خپل کور کی پاتې وې ،ددغه ټکی د څرګندولو لپاره اوس د (اوستایا زند)کلمی چی( زند )د اوستا د ژبی پهلوی تفسیر دی یو دبل پسی توضیح او تشریح کیږی اود پشائی لرغونې آریائی ژبی سره په پرتله کی څیړل کیږی.
دا باید هم ووایم چی،د اوستا د ژبی څخه را زیږیدلی ژبی لکه (فرس قدیم)پهلوی او د هغویو په تفسیرونو کی ښائی چی دزړی اصلی آریائی ژبی څرک ولیدل شي.له دی کبله غواړم د اوستا اوزند د کلمو او وروسته په نوو پیدا شووتفسیرونو هم د پشائی ژبی له پلوه څرګندونی وکړم ،اوس د( اوستا) کلمه او وروپسی(زند) په پشائی ژبه کی څیړو.
اوستا:
اوستا دپشائی ژبی یو ژوندی او مروج نوم دی ،چی دلرغونوزمانو څخه ترنن پوری زمونږ دګران هیواد دغه لرغونی آریائی ژبه پری سینګار ده ،لا دبلی کومی آریائی ژبی تر اغیزی

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاندی ئی ځان ندی راوستی او همدا شان دبلی کومی آریائی ژبی اغیزه ئی هم په ځان نده منلی او په خپل لرغونی بڼه پاتی ده ،خو یواځی د جغرافیائی ناوړو شرایطو له امله ،چی اوس پشائی ژبی اولسونه په ځانګړو درو ،سردرو،کلیو او بانډو کی یو دبل څخه وړاندی اوسیږی ،څه نا څه ئی په بڼه کی توپیر لیدل کیږی د بیلګی په توګه د کونړ او د لغمان پشائی ژبی ډوډۍ ته (اوو)یا (او) وائی خو د تګاب د سیمې د الځای پشائیان ورته (آی)وائی .څرنګه چی د «ی »توری یو غړیز توری دی ،چی د فیلالوژی د اصولو پر بنسټ هرغړیزتوری تل په بل غړیزتوری اوړی او د کلمې په بڼه کی هم توپیررا مینځته کیږی ،د لوړی توضیح د ریښتینتوب په خاطر که چیری د(او)د کلمی د(و) توری په (ی) واړوو یا برعکس نو د نوموړې کلمې څخه (آی)یا (او) جوړیږی ،چی په اصل کی دواړه سره یو شی دی او د (ډوډۍ- نان) مانا لری.

څرنګه چی مونږ اوس په پشائی ژبه کی د (اوو)کلمه د(ډوډۍ)په مانا لرو نو غواړم د همدی کلمې په رڼا کی د اوستا د ژبی د (اوستا) په نومی کتاب باندی رڼا واچوم .مخکی له هر څه غواړم ووایم ،چی د اوستا نوم په پشائی ژبه کی یوه ترکیبی کلمه ده ،چی دلرغونو زمانو څخه تر اوسه پوری په خپل شکل ژوندۍ ده اود پشائی ژبو په ورځنیو خبرو اترو کی په پوره پیمانه په کار وړل کیږی .اوس ئی توضیح کوو:

په پشائی ژبه کی (اوو)د (و) د توری په اوږده تلفظ لکه دوه کوچنی( واوونه) لوستل کیږی ،نه د پښتو ژبی د (او)د ربط د کلیمی په شان .بلکه خپل ځانګړی د پشائی ژبی د خصوصیت سره سم تلفظ کیږی دا ځکه چی په پښتو او دری ژبو کی ورته،ورته تلفظ نه لرو.

دا چی مخکی وویل شول ،د اوستا کلمه د پشائی ژبی یوه ترکیبی کلمه ده ،چی د (او)،(س) اوله (تا)څخه جوړه شوی ده.

د (او) کلمه چی د (اوستا)د نامه لومړنۍ او اساسی برخه جوړوی مانائی (ډوډۍ )یعنی (نان) ده.

)س)په پشائی ژبه کی یو نسبتی حالت جوړوی ،چی د اوستا په نامه کی د (س) توری ،په

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدی مانا او مفهوم راغلی دی ،چی ډوډۍ ته ئی نسبت کیږی،یعنی د (او= ډوډۍ) څخه په خپل موجودیت کی (اووس= د ډوډۍ) نسبتی کلمه جوړوی.

د اوستا د کلیمی دریمه برخه د (تا) کلمه ده ،چی په پشائی ژبه کی د مفرد غائب لپاره په راتلونکی زمانه کی د یوه شی یا د یوه کار د مربوطولو مانا لری .لکه په پښتو او دری ژبو کی د (یی)او(اش) مانا اومفهوم افاده کوی لکه په دی لاندی جمله کی:

کارییی نه کوم = کارش را نمیکنم

په دی پورتنۍ جمله کی دپښتو د (یی)او ددری (رش)او (اش) کلیمې ،چی د یو غائب شخص پوری اړه لری ،بی له هیڅ ډول توپیر څخه کټ مټ په پشائی ژبه کی د (تا)کلمه همدا مانا لری د بیلګی په توګه په پشائی ژبه کی دا لاندی جمله وګورئ.

لهمیستا نه کیمې = کارئی نه کوم = کارش را نمی کنم ،کیږی یا:

اوستا (اووستا) کیمی = ورته ډوډۍ کوم ،را بولم ئی، په دری کی (دعوتش میکنم ،نانیشه میکنم)کیږی.

اوس چی مونږ په پشائی ژبه کی د لرغونی ( اوستا) دنوم ټولی ترکیبی برخی وڅیړلې او هری برخی ته مو ژوندې مانا په لاس راوړه ،اوس ئی ټول شکل لیکو.

او= ډوډۍ(نان)+(س) چی نسبتی توری دی ،ورڅخه (اوس) جوړیږی ،چی مانا ئی کیږی( د ډوډۍ)،وروسته ورسره د (تا)کلمه ،چی ،په پښتو او دری کی د (یی= رش،اش)مانا لری ورسره یو ځای لیکو،چی مونږ ته د (اوستا)تاریخی نوم په لاس راځی ،چی د (اوستا= اووستا) د لرغونی تاریخی کتاب نوم کټ مټ په پشائی ژبه کی ژب څیړونکو ته دقضاوت لپاره وړاندی کوې،چی مانا ئی په پښتو او دری کی (ډوډۍ ئی، بلنه ورکونه= نانش= دعوتش )کیږی.

په پشائی ژبه کی د(اوستا )کلمه د (واو)د توری په اوږده تلفظ سره د (اووستا) په بڼه د(بلنی ،دعوت)مانا ورکوی.

په پشائی ژبو کی د دعوت کلمه د ډوډۍ کولو ،ډوډۍ ورکولو او درناوې کولو په مانا د (اوستا) په کلمه کی نغښتی دی ،یعنی پشائی ژبی (دعوت)د پښتو د بلنې د کلمی پر ځای د

(c) ketabton.com: The Digital Library

(اوستا) کلمه په کاروړی ،یعنی په پشائی ژبه کی د اوستا کلمه کټ مټ د (بلنې، دعوت او د نان او نانش )مانا افاده کوي.

اوس چی مونږ د لرغونې آریائی ژبې اوستا او د هغی ژبی د زرتشترا(زردشت)د پیغمبر د (اوستا)دینی او مذهبې کتاب نوم مو په پشائی ژبه کی ژوندی په لاس راوړ ،که ښه ورته ځیرشو،نو نوموړې کلمه په پشائی ژبه کی د بنې ، تلفظ او مانا له مخی د لرغونی (اوستا)دنامه څخه هیڅ ډول توپیر نلرې او کټ مټ ورسره یو شانته دی.

څرنګه چی څرګنده ده، ځنی پوهانو د (اوستا) کلمه د دعوت ،نیایش په نومونو اخیستی ده ،چی د پشائی ژبی د (اوستا=دعوت یی)د کلمی سره هډو تو پیر نلری .خو ځنی پوهان په دی باور دی،چی نوموړې د (اوستا) کلمه د مجهول نا دانسته او مبهم )مانا لری،چی دغه نظریه په پشائی ژبه کی د نامه د درست او دقیقی مانا او مفهوم څخه وروسته ،نادرسته ثابتیږی دا ځکه ،چی په پشائی ژبه کی د (اوستا) د لرغونې کلیمې په هکله هر اړخیزه او بنسټیزه توضیحات ورکړل شول او د (بلنې =دعوت )مانا تری په لاس راغله.

دا وو په پشائی ژبه کی د لرغونی (اوستا )د کلمې په هکله هر اړخیزه او بنسټیزه شاربنه کوم چی،نا څرګند تاریخی نوم یې ښکاره او څرګند کړ.

اوس د اوستا د نامه پهلوی تفسیر یعنی (زند)نوم په پشائی ژبه کی لکه د(اوستا) لرغونې آریائی نوم ترخیړنی لاندی راولو.

اوستا ژبه یا زند:

د(زند) کلمه د (اوستا)د کلیمې پهلوی تفسیر دی،خو د (زند)دکلیمې په هکله لکه داوستا کلمه دومره ډیر توضیحات او د پوهانو نظریات د ځان سره نلری.یواځی او یواځی د(زند) کلمه د پهلوې ژبی تفسیر بلل شوی اود (اوستا یا زند)په نامه سره یادیږی.مانا دا چی د (زند) کلمه لکه اوستا یوه مانا او یو مفهوم لری یعنی دا چی (زند)هم لکه (اوستا)د بلنی (دعوت)مانا لری .ددی کار دربنتینتوب په خاطرغواړم د(زند)دکلیمې ژوندیتوب په پشائی ژبه کی لکه د اوستا د نوم په خیر ترخیړنې لاندی ونیسم ،تر څو د نوموړې نوم په هکله دپوهانو توجه دی ټکې ته راوګرزوم ،چی نوموړې کلمه هم لکه د لرغونوآریا ئی ژبو لکه

(c) ketabton.com: The Digital Library

(ویدا )او (اوستا)نومونه په پشائی ژبه کی تراوسه پوری، چې زرګونه کلونه پری تیر شوی دی ژوندی دی.

ددی ټکی د اثبات په خاطر په پشائی ژبه کی د (زند) نوم په بنسټیز ډول په لاندی ډول توضیح کیږي.

زند:

د زند د نامه په هکله اوس پوه شوو،چی داوستا دژبی پهلوی تفسیر دی ،یعنی دا چی د پهلوې ژبی په زمانه کی کله ،چی د اوستا ژبه په پهلوې ژبی واوښته نوئی د اوستا باختری نوم په (زند) واړاوه او په پهلوې کی ورته (زند) وویل شول.له دی ټکی څخه زما مقصد دادی ،چی ووایم:

د باختری اوستا نوم دزمانې د تیریدو سره سم په نوې نوم(زند)ونومول شو دا چی،داوستاد کلیمې پشائی مانا (بلنه،دعوت)دی ،ښائی چی د زند دنوم ماناهم (دعوت)وی. اوس د زند کلمه په پشائی ژبه کی څیړو او ګورو ،چی د زند دنوم مانا څومره داوستا دنامه دمانا سره څنګ لګوی.دزند نوم په پشائی ژبه کی تر اوسه پوری په خپل اوستائی شکل ژوندی دی او د پشائی ژبی د ژوندیوو مصدرونو څخه یو مصدر دی ،چی د زند د کلمو په څیر ډیر لرغونی آریائی نومونه دخپل دلرغونتوب دځرګندولو په خاطر محترمو اوستا پوهانو ته ور په ګوته کوی.

دژبی پوهان عقیده لرې چی، دزند نوم داوستاد نوم تفسیر دی .مانا دا چی ،دواړه سره یو شی دی.نو په دی خاطر ښائی چی، د(زند) دکلمې مانا هم په لرِغونی آریائی ژبی کی لکه د اوستا نوم (دعوت ،بلنه)وې.

هوکې:د(زند)کلمه هم یوه لرغونی آریائی پهلوې کلمه ده او اوس ئی په لاندی ډول سره توضیح کوو.

د (زند )کلمه په پشائی ژبه کی د (زانیک= غږِ کول،ناری کول،اواز کول،بلل،چغیدل.)له مصدر څخه په لاس راځی،څرنګه چی،د زند کلمه یوه لر غونې آریائی کلمه ده ،غواړم نوموړی مصدر دهغی د ټولو افعالواو صفتونو او امری صیغوسره یو دبل سره ولیکم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

آ– زه=زانیم =بولم امو– مونږ = زانیس= بولو
تو –ته=زانی=بولې ایمو –تاسو=زانیدا =بولې،زاندا=راوئی بولې
سی –هغه =زانګا=بولی تې–هغوی =زانین =بولې

»امری فعلونه«
مفرد مخاطب =زان،زانا
جمع = زاندا
زانوا=بلل شوی . زانوی=بلل شوی . زانکالا =بلونکی .زانکالی=بلونکی او زاننا =بلنه.

داووپه پشا ئی ژبه کې د(زند)نوم، چې دزردشت ددینی کتاب د اوستا څخه وروسته د وخت د مذهبی پوهانوله خوا پرې ایښودل شوی دی . په نوموړې ژبه کی یی تر نن پوری مصدر ژوندی دی او پشائیان ئی په خپلو ورځنیو خبرو کې په کار وړې او پرته له هغی نوموړی ژبه ښائی یو بل مصدر له بلی کومې ژبی راواخلی او خپله تشه پرې ډکه کاندی،که نه نو د نوموړې فعل ځای به په پشائی ژبه کی خالی وې .دا چی اوس مونږ د(زاندا)کلمه د جمع مخاطب لپاره د( زانیک ـ غږ کول،بلل،څوک ځانته بلل)د مصدر څخه په لاس راوړه،خو په لومړی نظر کی ورڅخه داسی ښکاری چی،د پهلوی د (زند)دنامه سره په ښه او لفظ کی توپیر لری.دا ځکه چی،د(زاندا) په کلمه کی دوه د الف توری د پهلوې د (زند) سره په توپیر کی لیدل کیږی،خو مانا ئی په پشائی ژبه کی (راوئی بولې)ده چی د پهلوې ژبی د (زند)او هم د اوستا د ژبی د (دعوت)مانا سره هیڅ ډول توپیر نلری. څرنګه چی پوهیږوغږیز توری کله کله په یوه کلمه کی یا زیاتیږی یا خوترینه غورزیږی اوس که چیری د پشائی ژبی د(زاندا)دفعل،دواړه د (الف)توری ورڅخه لیری کړل شی د(زاندا) دنامه څخه (زند) جوړیږی،چی په دی صورت کی د پهلوې (زند)د شکل او تلفظ

(c) ketabton.com: The Digital Library

له مخې به هيڅکله يو د بل څخه توپير ونه لري.
دا چې،مونږ ته اوس دا څرګنده شوې چې،غږيز توري دبې غږو تورودوجود ښکارندوی دی اوپرته له غږيزو تورو خپل ځان نشي څرګندولی،بې له شکه ښائي وويل شي چې، هر يو بې غږه توري د تلفظ په وخت کې يو غږ لري چې، دغه غږ دتل لپاره د(آ،ا ،ه،و،ی،ء...)په ملتيا سره ځان څرګندوی،که چيرې مونږ د (زند)دنامه د(ز، ن، د) توري په خپلو ژبو کې تلفظ کړو ،نو په يواځينی ډول سره خپل ځان ،څرنګه چې ښائي نشي ښکاره کولی،همدا ډول که مونږئي د يو او بل سره ونښلوو ،نو د نښلولو په صورت کې به ضرور، د هر توري په پای کې به يو غږ واوريدل شي لکه(زا – نه– دا) چې،نښتې بڼه ئې د پشائې ژبې د (زانهدا) نوم دی چې،کټ مټ دا نن هم په پشائي ژبو کې د (وئی بولې ،وئی غواړې،غږ ورته وکړې ) ژوندی دی چې دا ډول ئې ماته اصيل او رښتينی ښکاري چې، وروسته به څيړونکو دخپلو ژبو د خصوصياتو سره سم ور اړولی وی او ورڅخه(زند) به جوړ شوی وی ،ښائي چې څيړونکو به د څيړنو په وخت کې دا اصيل نوم(زانهدا يا زاندا)نوم د (زند) په بڼه اخيستی او ليکلی وی.
يادونه:
ژب پوهان وائې چې،د اصلي آريائي ژبې يو ځانګړی خصلت دا ووچې،وروسته د هربې غږی توري سره يوغږيزتوری مل وو چې،همدا خصوصيت اوس هم ډيرو آريائي ژبو د ځانه سره ساتلی دی اوځينی ورڅخه څه نا څه بې برخې شوی دی.
زما په باور د (زند ) پهلوې کلمه په اصل کې د آريائي ژبو د لغاتو د پيژندلو د اصولو او قواعدوسره ډير توپير لري .دا ځکه چې ،د (زند) په پهلوی دری ساکنو حرفونو کې چې، کلمه ورڅخه جوړه شويده هډو غږيز توری نلری ،نو د آصلی آريائي ژبې دقاعدی سره هيڅ ډول خپلوی نلری ،د نوموړی توضيح څخه دا پوره په ډاګه کيږی چې،اصيل ډول ئې همدا دپشائي ژبې بڼه(زانهدا) کټ مټ درسته او صحيح ده چې، داصلي آريائي ژبې د خصوصياتو سره پوره څنګ لګوی او پر ځای بريښی او خپل آريائي توب له ورايه څرګندوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د نوموړی ټکی د په نظر کی نیولو سره ،ښائی ووایم چی،د(زند) د نامه لرغوني بڼه (زانهدا – زاندا)کیږی چی په پشائی ژبه کی ئی مانا هماغه د پهلوی ژبی د(بلنی او دعوت)نوم دی. که چیری د نوموړې پشائی کلیمی د (زانهدا او زاندا)د نومونو څخه چی په اصل کی دواړه سره یو شی دی ، که د الف توری ئی له مینځه یوسو د پهلوی ژبی د (زند) کلمه په لاس راځی چی،دواړه کلمی په بڼه او تلفظ کی یو د بل سره ورته او یو شان دی.

برسیره پر دی د(ز) او( ن) توری د(زانیک/ بلل )د مصدر ریښه ګڼلی شوچی، نوموړی توری په ټولو پشائی افعالو کی ځان څرګندولی شي او مونږ ته دا راپه ګوته کوی چی،نوموړی افعال د یوې ریښې څخه راوتلی دی .او د (د) توری په پشائی ژبه کی د تل لپاره په ټولو افعا لو کی دجمع مخاطب او د غائبینو په صیغو کی هم ځان ښکا ره کوی چی ،په دی ځای کی هم د پهلوې ژبی په (زند) کی هم د (د ) توری هماغه د پشائی ژبی فعلی ډول دی چی، د جمع غائب په فعل کی ئی ځان ښکاره کړی دی . نو اوس دد غو څیړنو په رڼا کی دا په ډاګه ویلی شو چی د پهلوې د (زند ) کلمه د ننی نیمګړی پشائی ژبې یو ژوندی مصدر دی.

اوس چی مونږ په پشائی ژبه کی د پهلوی د(زند) کلمه د پشائی ژبی د( زانهدا ) او(زاندا) فعلونه د نوموړی ژبی د (زانیک – بلل) له ژوندی مصدر څخه په لاس راوړه او هم ئی پر مانا وپوهیدو چی مانا ئی (بلنه) ده ،چی یو ځل بیا مو د پشائی ژبې له پلوه د پهلوی (زند) مانا په دقیقه توګه په لاس راوړه د دی ټکې په څرګندولو ویلی شو چی ، داوستا او د زند د کلمو مانا په پشائی ژبه کی بی له هیڅ ډول شک او تردید څخه یو شی دی چی،بلنه (دعوت) ورته وائی.

په دی ځای کی پر ځای به وی چی، یو څو کرښې دیوې مشهورې اسلامی کلمې په اړوند چی، مسلمین (ازان) ورته وائی وکاږم . ...... که چیری (ا) ورزیات کړو (ازان.....( وائی چی،( زند ) پهلوې تفسیریو بل تفسیر هم درلود( چی، هغه (پیتی،زنتی)یعنی (مکرر تشریح)یا (پازند)ئی بولی .ددی تفسیر ابهام ترپهلوی لږدی او هم ئی رسم الخط واضح دی ،پازند له پهلوی څخه لږ څه بیلتون لری ،او ټول کتب چی پکی موجود دی ،دپهلوی نسخو

(c) ketabton.com: The Digital Library

تفاسیر او شروح دی).(1)

اوس غواړم دا بل پهلوی تفسیر (پیتی،زنتی)یا (پازند ) هم په پشائی ژبه کی تر څیړنې لاندی راولم ،نږدیوالی او ورسره یو شانته والی ئی ښاغلو ژب پوهانو ته ښکاره کړم.

الف– پیتی :د پیتی کلمه په پشائی ژبه کی د (پهتیک)د پښتو ژبی د (تلل) له مصدر څخه په لاس راځی چی، نوموړی مصدر په پشائی ژبه کی د ماضی زمانې پوری اړه لری ،ځنې پشائیان یی فعلونه په لاندی ډول په کار وړی.

د(پهتیک)دمصدر دافعالوګردانول په لاندی ډول دی.

پهتیک / تلل

آ – زه پهتم ،پتم – (تللی به یم)

تو– ته پاتې، پهتی – (تللی به ئې)

سی –هغه پهتې – (تللی به وی)

دا چی،اوس مونږ په پشائی ژبه کی د فعلونو په ګردان کی د مفرد مخاطب او مفرد غائب په افعا لوکی، دوه ورته فعلونه (پهتی او پهتې)په لاس راوړل او پری وپوهیدو چی دا د پشائی ژبی اصلی د تیرې زمانی اافعال دی چی، دپهلوې ژبی د(پیتی)دنامه سره پوره ورته والی لری . ددی لپاره چی، کټ مټ ئی په لاس راوړو د ژبو د غږیزو تورو اصول پرې تطبیقوواو ګورو چی د پشائی ژبی د (پهتی)په فعل څه پیښیږی په لاندی ډول.

که مونږ د پشائی ژبی د (ه)غږیز توری د (ی)په غږیز توری واړوو ،ورڅخه (ی) جوړیږی ،یعنی دا چی د پشائی د(پهتی)فعل دپهلوې ژبی د (پیتی) په ډول رامینځته کیږې چې،مونږئی د اوښتو ډول ولید او پری وپوهیدو چی،غږیز توری څرنګه یو پر بل اوړی.

که چیری مونږ د پهلوې او پشائی ژبو د(پیتی او پهتی)ډولونو ته پام وکړویو دبل سره دومره زیات توپیر نلری او تلفظ ئی هم یو اوبل ته پوره ورته ښکاری او دا چی مونږ پری د غږیزو تورو د اوښتلو قاعده تطبیق کړه کټ مټ یو شانته دی .د نوموړو دلایلو په وړاندی کولو سره دا ویلو شو چی ښائی نوموړې فعلونه د یوې ژبې څخه راوتې وې او د

(c) ketabton.com: The Digital Library

يوې ژبې وې.

برسيره پر دې د نوموړې پشائی مصدر دمفرد غائب د(پاتی)فعل ته پام کوو،که چيرې مونږ د (پاتی) د فعل د (ا) توری د (ی)په توری واړوو ورڅخه (پيتی)جوړيږی چې د پهلوی د نامه سره هډو توپير نه لری .اوس نو دا نه معلوميږی چې کوم نوم د کومې يوې ژبې پورې اړه لرې،خو د تاريخی حقايقو څخه دا رابرسيره کيږی چې ،نوموړی نوم د پشائی ژبې پورې اړه لری.

ب – زنتی :– دا کلمه لکه د( زند )په څير د پشائی ژبې د (زانيک)د مصدر څخه چې په پښتوکی ورته (اواز کول ،غږ کول ،رابلل)وائی مانا لری اوس ئی ګردان ته پام کوو.

زانيک = رابلل...

آ=زه زانېم =را بولم

تو=ته زانی= راتولې

سی =هغه زانګا= رابولی

آمو =مونږ زانېس=رابولو

ايمو=تاسو زانيدا= رابولې

تی =هغوی زانيندی،=را بولې يې

امرى افعال ئې دمفرد مخاطب او جمع مخاطب لپاره(زانا، زاندا«زانهدا»)کيږی.

اوس که مونږ دجمع مخاطب د فعل څخه چې د (زاندا)کلمه ده ،که چيرې ورڅخه دوه غږيز توری (الفونه)وغورځوو بې له شکه ورڅخه د (زند)نوم چې په پهلوې کې راغلی او زمونږ د بحث موضوع جوړوی په لاس راځی او کټ مټ دپهلوی د (زند )سره اوږه په اوږه دی او مانائی ده (راوئی بولې،دعوت ئی کړی) کيږی .دا چې اوس مونږ د پهلوی د (زند) نوم د پشائی ژبې د ژوندی مصدر څخه په لاس راوړ ،نو په ډاډ او باور سره دا ويلی

(c) ketabton.com: The Digital Library

شو چی،نوموړی نوم دآصلی آریائی ژبی (آریک = پشائی )ژبی څخه نورو آریائی ژبو ته تللی دی لکه په پهلوی ژبه کی همدا د (زند) نوم.

ت – پازند:– دا کلمه په پشائی ژبه کی یو ترکیبی نوم دی چی،له دوو برخو څخه جوړ شوی دی.

1:- پا =ولاړ شه ،ځه
2:- زند(زاند)=وئی غواړه ،وئی بله
چی ددواړو ټوټو د یوځای کیدو څخه (پا +زند = پازند ) جوړیږی چی ،مانائی (ولاړشه راوئی بوله)کیږی چی،دا په لاس راغلي پهلو ی نوم د پشائی ژبی ژوندی نوم دی چی تر اوسه پوری په پشائی ژبه کی ژوندی دی او د لمرپه شان په کی ځلیږي . زما په باور د( پازند )ترکیبي نوم د پهلوی د بل تفسیر یعنی د( پیتی زنتي(
د نومونو څخه به جوړه وي.
داوو په پشائی ژبه کی د پهلوي ژبی د تفسیر شوو کلماتو توضیح او تشریح کوم چی، لا د نن پوری زمونږ د ګران هیواد افغانستان په پشائی ژبه کی ژوندی او مروج دی او د سبا د ستوری په شان په خپله ژبه کی لا ساه کاږی اوبریښیږی .برسیره پر دې چی ،په پشائی ژبه کی د اوستا او دزند نومونه وځیړل شول ،د پشائی ژبه کولی شي د اوستا د کتاب څخه ډیر پاتې تاریخی نومونه وخیړی او مانا ئی کړی چی دا کار به اړتیا په صورت کی تر سره شي.

زراتشترا zaratashtara –

)تر اوستا وروسته دوهم نوم ددی کتاب د راوړونکی نوم زراتشترا یا زردشت دی چی دا

(c) ketabton.com: The Digital Library

سړی د بخدی آریائیانو یو نوموړی دینی او مبلغ موسس دی) (162.(
څرنګه چی مخکی داوستا نوم دپشائی ژبی له پلوه د اوستا پوهانو د نظریاتو په رڼا کی وڅیړل شو ،همدا شان غواړم د نوموړی کتاب د لیکونکی نوم هم د اوستا د ژبی دپوهانو د نظریاتو په رڼا کی د پشائی ژبی سره په پرتله کی وڅیړم ،تر څو ولید ل شی چی، پشائی ژبه ددغه کار د عهدی څخه وتلی شې اوکه نه.
برخیره پر دی غواړم د پشائی ژبی لرغونتیا د زراتشترا د نامه په څیړنه کی یو ځل بیا پوره څرګند کړم .ددی کار د د تر سره کولو لپاره لومړی غواړم د اوستا پوهانو هغه نظریات چی د زراتشترا د نامه په هکله ئی ورکړی دی ولیکم او ورپسی خپل نظر دپشائی ژبی له پلوه ژب پوهانو ته وړاندی کړم.
)نوی او زاړه محقیقین د زرتشترا په نامه کی مختلف دی ،مثلآ په دغو ډلو کی دا نوم له قدیمه تراوسه ضبط سویدی ،زراتشترا،زرتشترا،زارتشت،زاردهشت،زارد شت ،زردهشت،زرتشت مګر په ګاتها کی (زرتشترا)راغلی او دا ډول یی پخوانی دی ،یونا نیانو زوراد وس ،زاروس ،زراتس،زاروستر هم راوړی دی.لکه ددی نامه په ظاهری ډول او شکل کی چی، اختلاف دی په معنا کی هم داسی مختلفی مفکوری موجودې دی ،هر چا یوه توجیه ورته کړیده او مشهور اقوال یی دغه دی:
1–دینون یونانی مورخ وائی : زرتستر یعنی د( ستورو ستایونکی)دا مورخ تقریبآ دوه زره کاله تر اوس دمخه ژوندی وو هسی رای لری.
2–نوی اروپائی محققین هم ډول ډول ترجمی ورته تراشی،مثلآ کاسل وایی (د ستورو زوی دی )،ویندېشمن او میولر دا عقیده لری چی ،معنی ئی (ددلاور اوښ خاوند)ده، هارلز یی لکه طلا داسی بریبنیدونکی سره ترجمه کوی ،ډارمستټر وائی :چی، معنایی (د ژیړ اوښ خاوند) ده،بارتولمه یی ،(د زاړه اوښ خاوند) بولی،جاکسن انګلیس هم دغسی وایی. پروفیسر رات یی د (زرګر) په مانا اخلی.
3–شرقی پوهان ددی نامه مانا (اوردهء نخست یا افریدهء اول) لیکی او ځینی یی په (فرستادهء یزدان یا نفس کل ،نور مجرد نفس ناطقهء ترجمه کوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

4-ځینی پوهان داسی وایی :چی دا کلمه له سامی ژبو څخه راغلی ده ،راولنسن انګلیس لیکې چی،لومړی جزویی (زرد)له (زیرد)څخه جوړ شویدی ،چی مانا ئی (زاده )ده .دویم جزویی اشترا د زهرې ستوری نوم دی . نو مرکبآ یی داسی مانا کیږې(زادهء ستارهء زهرا) د کلدانیانو په عقایدو کی زهره د(ایستاد) مظهر و،
چی د عشق ربالنوع او د جګړو ملکه وه.
5-دا ټول نظریات چی زکر سول : دځینو نورو پوهانو لخوا رد شویدی ،ځکه چی هر یو چا یو تقریبی او تخمینی مفهوم ورته ټاکلی دی ،پور داود وایی:
ښائی چی دغه یوه نظریه سمه نه وې،ځکه که لومړی جزوی (زر) وبولو ، دا کلمه خو په اوستا کی (زیرت(
وه او (زرنت)د (زوړ او پیر )په معنا دی ،مګر په ترکیب کی دا کلمات په څه ډول (زرت) سول،)(162،163،164.(

یادونه:
اوس چی د پوهانو نظریات د زراتشترا دنامه په هکله څرګند شول او پری وپوهیدو ،چی دنومونې نوم په شکل او مانا کی د ډیر پخوا څخه تر نن پوری دزړو او نوو څیړونکو نظر په خپلو منځونو کی یو دبل سره په توپیرکی دی ،هغه اصلی نوم ،چی د ګاتها په کتاب کی راغلی دی (زراتشترا )دی .په تاسف سره باید وویل شې،چی دنوو او زړو څیړونکو لخوا نوموړی نوم په اوو ډولونو کنبل شویدی ،چی یو د بل سره په شکل کی توپیر لری .کله، چی یو شکل له خپل اصلی شکل څخه اوړی ،خا مخا بنه ئی د اصلی حالت څخه اوړی او لیری کیږی او ځانته بل تلفظ او بله نوی مانا غوره کوی ،چی په دی ځای کی دا کار د( زراتشترا )په نامه شویدی ،هر څیړونکی، نوموړی نوم د خپلې ژبی د الفبا او تلفظ سره په مطابقت کی اخیستی دی ،چی په پایله کی یی بڼه ،تلفظ او مانا هم د اصل څخه لیری وتی ده.
یونانیانو موءرخینو او پوهانو هم په خپل وار سره د (زراشترا)لرغونې اوستائی نوم په خپله

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژبه برابر کړيدی او داصل څخه ئی ليری ويستی دی لکه: زورا دروس ،زاروس ،زراتس او زاروستر اوداسی نور.....
دختيځواو لويديځو پوهانو د ليکنو څخه دا څرګنديږي ،چی يو نوم ئی په څونووبڼو ليکلی دی او يو دبل څخه ليری وتی او سره توپير لری .نو کله چی په يو نوم داسی کانې وشی نوخامخا به ئی په بڼه ،تلفظ ،مانا او مفهوم کی توپير را څرګنديږی او دخپل اصل څخه به وړاندی وځی،چی دا کار د ښاغلو ژب پوهانو په لوړوپنځه ګونو نظرياتو کی نغښتی دی ، زما ددی ادعاد ثبوت په خاطر د اروپائی مورخينو او څيړونکونظرياتو ته مراجعه وکړې.
څرنګه چی د اوستا د نامه د توضيح څخه څرګنده شوه ،چی پوهانو ورته ډول ډول مانا ورکړی وه ،خو په پشائی ژبه کی نوموړی کلمه په خپل ژوندی شکل موجوده وه او زمونږ د څيړنی کارئی اسان کړ ،همدغسی غواړم چی،د (زراتشترا)کلمه هم چی د اوستا د کتاب د يو پيغمبر نوم دی په پشائی ژبه کی ئی را وڅيړم او هغه توضيح او تشريح کړم .ښائی چی،دا لرغونی آريائی باختری نوم هم لکه داوستا نوم په لاس راوړم ،تر څو د ښاغلو اوستا پوهانو او نورو علاقمندو ليکوالانو اوڅيړونکو د منلو او قناعت وړ وګرځی.

زراتشترا په (پشائی ژبه )کی
د زراشترا لرغونې آريائی باختری(بخدی) نوم په پشائی ژبه کی يو ترکيبی نوم دی ،چی په لاندی ډولونو سره په لاس راځی.
-1په لومړی سرکی د زراتشترا نوم له دريو برخو څخه جوړ شويدی په لاندی ډول : الف :- (زر-طلا):- دا کلمه په پشائی ژبه او د ګران هيواد افغانستان په آريائی ژبو کی د(طلا-زر)په نامه تر نن پوری ژوندی ده (زر )په پشائی ژبه (طلا) ته وائی ،چی پشائيان سرو او سپينو زرو ته همدا د (زر)نوم په کاروی او د مشخصولو په وخت کی ورسره د سرو او سپينو نوم اخيستل کيږی ،لکه شونيک زر او چليک زر ،يعنی (د سرو زرو او د سپينو زرو)

(c) ketabton.com: The Digital Library

چی د (زر )نوم تر نن پوری د هیواد په نورو لویدیزو آریائی ژبو کی په خورا ورته بڼو سره ژوندی او د استعمال وړ دی ،چی د (زرو) کار وونکی او زیوراتو جوړونکی هم د (زرگر )په نوم یادوی .دا چی د (زراتشترا)کلمه یوه لرغونې آریائی باختری کلمه ده،نو لدی امله ورته آریائی کلمه وایواو ښائی د (زر) کلمه د زراتشترا په نامه کی اصلی آریائی کلمه وی .دا کلمه په روسې ژبه کی هم د نوموړی نامه سره ځنګ لګوې او ورته (زولاته) وائی .

ب:- (اتا-ات)دا کلمه په پشائی ژبه کی د اتیک = ننوتل؛ اېک = خوړل او د ایک = راتلل له مصدرونو څخه دګردان په صورت کی دمفرد مخاطب او د غائب مفرد د افعالو څخه په لاس راځی په ترتیب سره (اتا=ننوځی؛ ات= ننوځه)؛ ( اتا= خورې) او د(ایتې = راغلی به وی) له افعالو څخه په لاس راځی ،چی ټول پورتنی په لاس راغلی افعال د زراتشترا دنامه دوهمه ټوټه چی د (اتا) برخه ده جوړوی او د نوموړې نامه سره پوره زنګون لګوې ،چې د ورته والی سره ئی هڅو توپیر نه لری اوپه وینا(تلفظ) کی یی هم یو شانته ښکاری.

ت:- د (زراتشترا)دنامه دریمه برخه د(س) یا (ش) توری دی ، چی دا دواړه توری یو پر بل اوړی ،خو مونږئی د (س) توری منو ،چی دا توری په پشائی ژبه اود لویدیځو آریائی ژبو د نسبت توری ګڼل کیږی ،چی تل وربآندی دیوه شی یا د یوه نامه نسبتیت جوړیږې ،مونږ ئی هم د نسبتی توری په توګه پیژنو دا ځکه ،چی د نسبت توری دی.

ث:- د زراتشترا دنامه څلورمه او وروستنۍ برخه د (تارا) برخه ده ،چی په پشائی ژبه کی دا نوم او فعل د پشائی ژبی د یوه ښکلی مصدر څخه ،چی (تاریک= لیدل، دیدن) له مصدر څخه په لاس راځی ،چی د مفرد غائب لپاره د (تارا =ګوری) فعل په لاس راځی او برسیره پر دی په پشائی ژبه کی (تارا= ستوری) ته وائی

چی په پشائی ژبه کی مونږ د زردشت د نامه وروستنی برخه د پشائی ژبی په دوو ډولونو کی لکه (تارا=ګوری)او د (تارا= ستوری ) په ډولونو کی پیدا کړه. چی دواړه په لاس

(c) ketabton.com: The Digital Library

راغلی نومونه د پشائی ژبی پاخه او تر نن پورې ژوندی نومونه دی اوس نو په دی پوره باور لرم او ډاډه یم ،چی ژب پوهان به دا راسره ومنې، چی د زراتشترا د نامه وروستنۍ برخه په پشائی ژبه کی ژوند کوې او د پشائی ژبی دوه ژوندی نومونه دی ،چی هډوخوک ترینه سترګې نشی پټولای او دا به هرومرو منی چی دا برخه هم لکه دری نوری مخکینې برخی د پشائی ژبی څخه اوستا ته تللې دی او لا ترنن پوری په پشائی ژبه کی ژوند کوې.

اوس که مونږ د پورتنیو په لاس ته راغلو نومونو د( ا+ب+ث ) برخی یو د بل سره څنګ په څنګ ولیکو دا لاندی ډول په لاس راځی ورته ځیر شیء.

زر+اتا+ س +تارا =( زراتاس تارا) اوکه ئی په دی ډول ولیکو (زراتسترا) یا( زر اتشترا )یا( زرتشترا)چی په نوموړو نومونو کی لومړی د (س) توری د(ش)په توری اوړی یا برعکس ،همدا ډول :کله کله غږیز توری یا خوړل کیږی یا هم زیاتیږی ،چی په دواړو ډولونو کی نوموړی د (زرتشترا یا زراتستارا) یو پر بل اوړې ،نو دا اوس بیا په ډاګه ویلی شو ،چی نوموړی نوم په یوه ښکلی ترکیب کی ،چی بیلګه ئی ښکاره ولیدل شوه د پشائی ژبی پوری اړه لری او د هغې ادبی خزانه ګڼلی شو.

اوس ئی لږ نورهم څېړو لاندینیو بیلګو ته پام وکړی:

زر+اتا(اتآ) +س +تارا= زر + وخوره( ننوځه)+ د+ ستوری.

پشائی = زراتا ستارا .یا زرآتا ستارا.

پښتو = دزرو ته ننوتونکی ستوری . یا دزرو خوړونکی ستوری.

که چیری مونږ د زر تشترا لرغونی اوستائی آریائی نامه بڼی او تلفظ ته ښه ځیر شو او ټکې په ټکې یی وڅیړو او ښه ورته پام وکړو ،نو څوک به ورته ووائی چی د پشائی ژبی زر اتشترا یا زراتستارا دی کوم وړوکی توپیر د اوستائی نامه (زراتشترا )سره کوم کوچنې توپیر ولری.

دا باید په ډاګه کړم ،چی شکل او مانا ئی دواړه په پشائی ژبه کی ژوندی دی .همدا ډول دا نوم په نورو ډولونو کی هم توضیح او تشریح کیدای شي ،خو غوره ئی همدا ډول وو کوم

(c) ketabton.com: The Digital Library

چي ګوته ورته ونيول شوه.دا وو په پشائی ژبه کی داوستا د زمانې د( زراتشترا ) نوم.
که چيری مونږ د خپل کار په دوام د (زراتشترا ) ترکيبی نوم ،چی له دريو ټوټو اوځو ځانګړو ماناوو څخه جوړ شوې دی سره يو ځای وليکو ،مونږ دا لاندی ماناوی ورڅخه په لاس راوړو .لکه ( زر=طلا؛ اتا= خوره ، خوری= بخور؛يا (اتا=ننوځی)او د« ستارا» برخه ئی په پشائی ژبه کی د «ستوری» مانا لری .که چيری مونږ د «ستارا »دنامه د (س)توری ورڅخه وغورځوو ،په دی صورت کی د (س)تورې يو نسبتی توری دی ،چی په ډيرو اروپائی آريائی ژبو کی د (س) توری نسبتی توری دی ،چی په دی صورت کی دستارا څخه (تارا )پاتی کيږی چی (تارا) په پشائی ژبه کی سيارې ته ويل کيږی چی نور ونه لری لکه (ځمکه،سپوږمی او مريخ...... اونور ،چی دا ټول په لاس راغلی نومونه که د يو او بل سره ګډ وليکو ځانګړی ترکيبونه په لاس راځی چی بيا هريو ئی ځانته ځانته ماناوی ورکوې ،خو د خپل اصل څخه هڅو وړاندی نه ځی او ښی زړه پوری او ښايسته ماناګانې ترينه راوځی او هر يوه لوستونکی او څيړونکی ته به خورا زړه پوری وې ،دا په دی خاطر چی تر نن پوری چی دا کرښی لولې ورسره به نه وی مخامخ شوی.
مخکی می وليکل چی «تارا» او« ستارا » په پشائی ژبه کی د ستوری او د بی نوره ستورو نومونه دی نو اوس ئی په پشائی ژبه کی داسی ليکو او بيائی مانا کوو.
زر+ اتا +ستارا =( زراتا ستارا) په لاس راځی که چيری مونږ اوس د په لاس راغلی د پشائی ژبی د «اتا»ګانو څخه د «ا» توری وغورځوو دپه لاس راغلی نامه (زراتاستارا) څخه به د (زرتسترا) نوم جوړ شی اوس که مونږ د تورو د اړولو اصولو ته پام وکړو او د (زراتسترا)دنامه د (س) توری په (ش)واړوو ،چی داسی اوښتون تل په ژبو کی وې نو په دی صورت کی به مونږ د (زراتسترا)څخه به د اوستاد ژبی (زراتشترا)يا (زرتشترا) په لاس راوړی وی ،چی هڅود اوستا د نامه څخه توپير نه لری .دا وو په پشائی ژبه کی د نامه د اوښتون اصول او لاره اوس د په لاس راغلی ترکيبی نامه د هری برخی مانا ته خپل پام رااړوو.
زر =طلا + اتا = وخوره (ننوځی)+س(نسبتی توری دی)+ تارا= ګوری (ستوری).

(c) ketabton.com: The Digital Library

مانګانې ئی داسی دی.
)سره زر + وخوره (ننوځی) + د + ګوری (ستوری) په ګډه سره مانائی:
زر +خوړونکی (ننوتونکی )+ستوری = د زرو خوړونکی ستوری (زرو ته ننوتونکی
ستوری.(
که چیری مونږ د زراتشترا د لرغونی آریائی نامه بڼې او تلفظ ته پام راواړوو او هغه ټکی
په ټکی وڅیړو نو په دی صورت کی به څوک ووائی چی د پشائی ژبی زراتشترا دلرغونی
اوستائی ژبی زراتشترا سره په کوم شې کی توپیر لری او دا باید هم ووایم ،چی مانائی هم
په پشائی ژبه کی شته اوبڼه ئی هم .همدا شان باید ووایم
چی نوموړی نوم په پشائی ژبه کی په نورو ډولونو کی هم توضیح او تشریح کیدای شی
چی د خپل اصل څخه هډو نه وړاندی وځی ،نولدی کبله له ډیری توضیح څخه ئی تیریږم
دا وو په لرغونی آریائی ژبی پشائی کی د اوستا د زمانی د زراتشترا نوم که چیری مونږ د
( زراتا)نوم په (زری تی )په ډول سره ولیکو ،نو د (تی) برخه ئی ،چی دپشائی ژبی د
(تیک=وول= بودن )دمصدر څخه په لاس راځی ،چی د مصدری علامی برخه ئی ،چی د
(یک)کلمه ده ورڅخه غورځی او د (تی) فعل ورڅخه په لاس راځی ،چی مانائی د(وی
)یا(وی به) کیږی ،چی په دی صورت کی ټوله مانائی د(زری تې= دزرودی ،دزرو به وی)
کیږی ،چی صفتی حالت ئی (زرین= طلائی)کیږی که اوس مونږورسره د (ستاره= ستوری)
نوم ورسره یو ځای ولیکو ،نو ټول په لاس راغلی نوم به داسی وې.
زری تی +ستاره = دزرو ستوری به وې( زرین«طلائی» ستوری.(
دا چی (س)په پشائی ژبه کې د تل لپاره یو نسبتی توری دی ،چی په ډیرواروپائی آریائی
ژبو کی هم دا د(س)توری یو نسبتی توری دی ،چی (زراتس – زراتاس)د (طلاخوړونکې
یا زروته ننوتونکې)مانا کیږی،ټوله مانائی داسی کیږی،دا چی د (س) توری یو نسبتی
توری دی او د (د)مانا ورکوی ،چی په ګډه سره مانائی داسی کیږی(زروته ننوتونکې–
دزرو خوړونکی )کیږی . که اوس مونږ د په لاس راغلی د (زراتاس ) دنامه سره
د(زراتسترا)دنامه وروستنی برخه ،چی (ترا– تارا) کلمه ده ورسره یو ځای ولیکو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورڅخه دبحث اصلی نوم ( زراتسترا – زراتشترا– زراتستارا )ډولونه په لاس راوړو ،چی دلته د نامه وروستی برخه (تارا) دوه ځانګړی ماناوی لری.

) –:1تارا)په پشائی ژبه کی د (ستوری– ستاره) مانالری که ئی دنامه د دوو لومړیو برخو سره یوځای ولیکو ورڅخه (زر+ات +س +تارا)د (زراتستارا= زرو خوړونکی ستوری) ورڅخه جوړیږي.

۲ –:د(تارا)دوهم فعل د پشائی ژبی د (تاریک = لیدل) له مصدر څخه په لاس راځی ،چی د( تارا) فعل د پشائی ژبی د مفرد غائب لپاره د(ګوری= می بیند) فعل دی ،چی مانائی داسی کیږی(زراتستارا= دزرو خوړونکی ګوری) کیږی ،دا وو په پشائی ژبه کی یو نوی ډول، چی داوستا دنامه داصل سره پوره ښنګ لګوي.

یادونه–:

پرځای به وی ،چی یو څونور مشهور اوستائی نومونه ،چی د پښتو د ادبیاتو په تاریخ کی د اوستائی نومونو سره په پرتله کی څیړل شوی دی دنوموړی تاریخ په رڼا کی د پشائی ژبی سره په پرتله کی وڅیړل شی ،تر څو د ښاغلو لوستونکو او څیړونکو پام د پشائی ژبی لرغونتوب او د هغی ادبی قوت اوتر اوسه پوری ئی دژوندانه څرنګوالی ته پام راوګرځول شی ،چی په دی برخه کی ځنی نومونه کوم ،چی د خپلی لرغونتیا له مخی ځانګړی ارزښت لری ترڅو یو د بل پسی دتاریخی اهمیت له پلوه توضیح او تشریح کړل شی ،ترهغه پوری، چی د ادب پوهانو یو څه تنده پری ورماته کړل شی ،لکه د(سپنتمان)او نور نومونه چی یو دبل پسی لاندی راځی ګورو.

## Spentoman:سپنتمان

)دا کلمه د زردشت له نامه سره ډیره راځی، وائی ،چی سپیتمه دزردشت د کورنی نوم وو او دده دنهم نیکه نوم هم ددی په نامه یادیدی ،د یسنا په( ۱۹ ) قطعه کی دا نوم راځی . په پهلوی کی سپیتامان یا سپیتمان ویل کیږی ،لومړی برخه ئی سپیت(سپید) ده او ددی نامه

(c) ketabton.com: The Digital Library

مانا داسی کیږی: سپین نژاد ،په گاتها کی هم دا نوم ډیر ځله راوړی) (۱۶۶.(
»)سپین نژاد» خو داسی مفهوم لری،چی باید دی له سپینه پښته وی او سپین پوستی وې
،مگر ښائی چی دا نوم معنوی جنبه هم ولری ،چی دده اصل او خټه سپینه وه یعنی له ښی
او روحانی کورنۍ او شریفې کورنۍ څخه وو،لکه چی ،ځینو خلقو دغه سپیتمان په« پاک
روان ،هم ترجمه کړیدی») ۱۶۶.
)په هرصورت دا فامیلې نوم دترکیب او مانا له پلوه پښتو دی .او د پښتو پر اساس ئی
لومړی جزو «سپین«
صفت دی .چی تر خپل موصوف د مخه راغلۍ دئ ،دوهم جزویی «تمان» موصوف
دئ،چی اوس ددی کلمې شکل په پښتو کی « تومنه» ده . یعنی اصل او مایه په قندهار کی
دا کلمه اوس هم په دغو معناوو شته ،مثلآ دمستو تومنه ،هغه مستې بولی ،چی د مائی په
ډول ئی شدو ته اچوې،چی مستی سی.
د بد خلق سړی په خصوص کی وائی : «تومنه ئی خرابه ده» یعنی اصل او نژاد او مایه ئی
ورانه ده . نو په پښتو کی به هغه تاریخی سپنتمان « سپین تومنی »یعنی « سفید نژاد » سی
چی فقط یو د سپین اخرنی« نون«
د تخفیف له پلوه شویدئ .او د تومنی «واو» هم ځکه چی حرف علت دئ ،په الف اوښتی
او له خپله ځایه ښوریدلی ، پس له «م» راغلی دی . او داسی تغیرات چی په څو زره کاله
کی دی کلمی ته ور پیښ سویدی ،د ژبو په تحول کی عمومی دی د سپیتمان لومړی جزو
چی « سپین » دی په اکثرو اریائی نومونو کی ریښه لرې یعنی د باختراریا ئیانو د اکثرو
نوموپه سرکی د سپین کلمه راځی ،مثلآ سپین دات، سپین تا ، سپین تو داتا او نورچی د
اوستا په وندیداد کی داسی نومونه ډیر دی او د لومړی جزو معنائی هم دغه سفید دی چی
د پښتو «سپین » کټ مټ پکی معلومیږی.
نو په دغه تاریخی استناد په ټینگه ویلای شو،چی د« سپیتمان» لومړی جزو هم دغه
«سپین» دی ،چی د هغی عصر په ټولو نومونو کی واو ددغی کلمی په معرب شکل
«اسفتمان» کی هم همدغه پښتو صفت ساتلی شویدی ،او همدغه نوم د البیرونی په

(c) ketabton.com: The Digital Library

اثارالباقیه په ځینو نسخو کی «سفید تومان» کښل شویدی ،چی د پښتو سپین تومان د فارسی ترجمه ده ). ۱۶۷.

اوس چی د «سپنتمان » د نامه په هکله مونږ یو څه معلومات په لاس راوړل ،چی په پهلوی ژبه کی ورته سپیتامان یا سپیتمان ویل کیږی او د نامه لومړنی برخه د« سپیت » « سپید» یعنی د« سپین» په نامه یاده شوی او په ګاتها کی هم دا نوم ډیر ځله راغلی دی.

بله مانائی داسی ده چی دی د «سپین نژاد»پوری تړل شویدی او معنوی جنبه ئی هم ورته ورکړیده ،او د هغه ختړه ئی هم سپینه بللی ده نو په دی خاطرئی د یوی شریفی ،نجیبی او روحانی کورنۍ پوری تړلی او وائی چی ځینو د سپیتمان نوم په (پاک روان ) هم ترجمه کړیدی.

په پښتو ژبه کی نوموړی نوم د (سپینی تومنی)یعنی د( سپین نژادی ) په مانا یاد شویدی او هم ویل کیږی چی د سپیتمان نوم په ډیرو اریائی نومونو کی ریښه لری لکه په باختری آریائی نومونو په سرکی د سپین دات ، سپین تا ، سپین تو داتا او نور چی د اوستا په وندیداد کی راغلی دی لیدل کیږی ، په هر حال د « سپینتمان» نوم د پشائی ژبی له پلوه په لاندی ډول سره شاربلی او سپړلی شو.

## Spentomanسپنتمان

په پشائی ژبه کی

د اوستا د« سپتمان» نوم د پوهانو او لیکوالانو له انده د « زرتشترا» د نامه پوری اړه لری او په دی باور دی چی د «زرتشترا» دنامه پوری یو تړلی نوم دی او د اوستا دکتاب پوری د اړوندو کتابونو لکه : ګاتها،یسنا او او وندیداد کی چی هر یو په خپل وار سره د اوستا ددینی او مذهبی کتاب برخی جوړوې کښل شویدی . یعنی دا چی د «زرتشترا» نوم د «سپنتمان» سره یو ځای داسی راغلی دی لکه:( زراتشترا سپنتمان.(

زما په باوربنائی چی دا نوم په همدی ډول سره لیکل شوی وی دا ځکه چی د «سپنتمان» نوم د ځینو څیړونکو له خوا د (پاک روان)په مانا هم راغلی دی،دا په دی خاطر زه پر

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځای بولم ،چی پخپله (زرتشترا)د باختری آریائیانو یو یاد او نومیالی دینی مبلغ اود اوستا ددینی کتاب ښبنتن اود زردشت ددین پیغمبراو لاربنود په توګه پیژندل شوی شخصیت دی . نو څرنګه چی دی (زردشت) پیغمبراو دینی مبلغ وو ،له دی کبله د «پاک روان» دکلمی په کارول ئی په اړوند ډیر ښه او پرځای ګڼل کیږی، داځکه،چی دی د خپل وخت لوی پیغمبراوروحانی ختِه ده ،په اړوند ئی د (پاک روان) صفت په کارول پر ځای او معقول کار ګڼل کیږی . نسبت وهغی کلمی ته
چی نوموړی دی د (سپین)یا د (سپین نژاد)په نوم ونومول شی ،زه یی له دی کبله درست نه بولم ،چی ټول آریائیان د سپین توکم څخه ګڼل کیږی او سپین والی په ټولو آریائیانو کی یو شریک او انکار نه منونکی حقیقت دی چی، د (پاک روان) کلمه یو ځانګړی معنویت دی ،چی په ټولو خلکو کی سپینوالی نه لیدل کیږی اودا معنویت په یوی ټولنه کی خاص وی نه عام او دا صفت د ټولنی لخوا وړ کس ته ورکول کیږی نه ټولووګړو ته.
زه د (زراتشترا) نوم د هغی د خصوصیت له مخی ،چی مخکی په پشائی ژبه کی توضیح او تشریح شو ، د (سپنتمان) کلمه هم د (زردشت)دنامه سره تړلې ګڼم او هغه د زردشت دنامه سره د صفت دکلمې په ځای راغلی بولم او په پشائی ژبه کی ئی د یوې مذهبی کلمی په توګه پیژنم ،چی د زراتشترا د نامه سره د مذهب له پلوه ټینګه اړیکه لری په بنسټیز ډول سره ئی په پشائی ژبه کی څیړم.

spentomanسپنتمان

دا نوم په پشائی ژبه کی د یوی ځانګړی کلمی په توګه وجود نه لری ،څرنګه چی اوس پوهیږو د (سپنتمان) کلمه د (زراتشترا)د نامه پوری تړلی یوه نښتی کلمه ده.
زه په پوره باوردا ویلی شم ،چی د (سپنتمان) د نامه د «س» توری د نوموړی نامه پوری اړه نه لری او د نامه اصلی توری نه ګڼل کیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د «س» د توری په هکله ښائی داسی ووایم ، چی لومړی په پشائی ژبه کی اوبیا په ډیرو لویدیزو آریائی ژبو کی د «س» توری یو نسبتی توری دی او د نامه په پای کی راځی او د نسبت مانا او مفهوم رسوی . نو له دی کبله زه د پشائی ژبی د ګرامری اصولو له مخی دومره وایم ،چی د (سپنتمان)د کلمی د «س» توری ،نوموړی نامه پوری اړه نه لری او دا توری د (زراتشترا) دنامه له پای څخه غوڅ شوی او ورپسی نامه سره ،چی د (پنتمان) کلمه ده ورسره غوټه شوی دی او د هغی څخه ئی ( سپنتمان) جوړ کړی دی ،که مونږ د (سپنتمان)د نامه د پیل څخه د «س» توری پری کړو اود(زراتشترا) دنامه د پای سره ورغوټه کړو ورڅخه (زراتشتراس(
په لاس راځی ،چی په پښتو ژبه کی د ( د زراتشترا) په لاس راځی .اوس ،چی د (سپنتمان) دنامه څخه مو د «س» توری پری کړ او یواځی (پنتمان) پاتی شو ،نو اوس دا په لاس راغلی کلمه په پشائی ژبه کی په لاندی ډول سره څیړو.
Pentomanپنتمان

دسپنتمان آوستائی کلمه په پشائی ژبه کی پرته د(س) له توری د (پنتمان) په بڼه کی په لاندی ډول سره توضیح او تشریح کیږی.
په لومړی ډول کی د پنتمان کلمه د پشائی ژبی له پلوه ،د دریو ټوټو څخه جوړه شویده ،چی هره ټوټه ئی یو دبل پسی توضیح او تشریح کیږی.
پین pen: ۱-
دا کلمه په پشائی ژبه کی د (پینیک =پیژندل = شناختن) له مصدرڅخه جوړه شویده . د( پین) برخه ئی دنوموړی مصدر دمفرد مخاطب لپاره په حال زمانه کی د (ویی پیژنه)فعل دی ،چی امری حالت یی یواځی او یواځی په فشار سره تلفظ کیږی او ورڅخه (پین- پینا = ویی پیژنه) جوړیږی.
۲ – په دویمه برخه کی د پنتمان د نامه د( ت) توری دی ،چی په یواځی ځان سره بی غږه توری دی ،چی مانا نه ورکوې ،د اصولو له مخی هر بی غږه توری د یوه غږیز توری

(c) ketabton.com: The Digital Library

په مرسته ،چی ورسره یو ځای شی ،ځان ښکاره کوې ،که مونږ د لته د (ت) دتوری سره هر یو غږیز توری ولیکو ورڅخه ( تا،ته،تو ،تی) په لاس راځی ،چی په پشائی ژبه کی هر یو په لاس راغلې کلمه خپله مانا لری ،چی په دی ځای کی زه یواځی د (تو)کلمه ورڅخه اخلم او هغه په کاروم.

دا په لاس راغلی د (تو) کلمه په پشائی ژبه کی د فاعلی حالت دمفرد مخاطب ضمیر دی ،چی په پښتو او دری

ژبو کی هم ضمایردی، چی مانا او بڼی یی هم یو او بل ته سره ورته دی، چی د (ته او تو) ضمایر دی ،چی په ډیرو نوروآریائی ژوندیو ژبو کی دا ضمایر لا تر اوسه پوری په ورته ډولونو کی ژوندی دی . اوس دا په لاس راغلی د(تو) پشائی کلمه را اخلم او د اوستائی نامه د (پنتمان) نوم توضیح کوم.

دا چی د (ت)د توری سره د (و)غږیز توری یو ځای ولیکو نو مونږ به دا کلمه(ت +و = تو)په لاس راوړې وی ،چی مانا به ئی په پښتو او دری ژبو کی داسی وې(ته ) او (تو) وې.

:مان،من Man،mn :۳–

د پنتمان دنامه دریمه برخه د (مان ،من )کلمه ده ،چی د پشائی ژبی د (منیک =منل ،پزیرفتن) له مصدر څخه په لاس راځی او د (مان او من) کلیمې ئی د پښتو او دری ژبو د ( ومنه، ویی منه ؛ قبولش کن)د مفرد مخاطب لپاره فعل دی ،چی په پشائی ژبه کی دا په لاس راغلی فعل کټ مټ امری فعل دی ،چی د پنتمان د نامه دریمه برخه جوړوی.

اوس ښائی د پنتمان د کلمی ټولې په لاس راغلې ټوټی یو د بل سره څنګ په څنګ د مانا سره ولیکو او وګورو ،چی مونږ ته کوم نوم په لاس راکوې ،بڼه او مانائی په څه ډول ده ،بڼه ،مانا او مفاهیم ئی څومره سره ورته ښکاری . او س دا په پشائی ژبه کی په لاس راغلی ټوټی یود بل سره نښلوو او ګورو ،چی مونږ ته څه په لاس راکوې.

پین = ویی پیژنه(بشناس.(

تو = ته (تو(

(c) ketabton.com: The Digital Library

مان،من= ویی منه(قبولش کن.(
اوس په لاس راغلې ټوټې یو د بل سره یو ځای لیکو او په لاس راغلی ترکیبی نوم ،چی ورڅخه په لاس راځی ،هغه د اوستائی نامه سره ښنګ په ښنګ دروو او بیائی پرتله کوو او ګورو ،چی دوی دواړه سره ترکیبی نومونه دی که نه ؟.
پین +تو + مان(من) = پینتو مان .اوس که د په لاس راغلی نامه غبرګ توری ورڅخه و غورځوو دا لاندی نوم په لاس راځی لکه: پنتمان دا نوم که مونږ ورته اوستائی نوم ووا یو،نو د پشائی ژبی نو م ،چی ِ غبرګ توری هم د ځان سره لری اصل به نه وی که ښنګه ؟.
که او س مونږ د همدی پشائی نامه څخه غبرګ توری وغورځوو، نو دواړه به یو شان نه وې. ارو مرو به دواړه سره یو شی وې.
پین تو مان = ویی پیژنه ته ویی منه ؛ چی ګرامری مانائی داسی ده :( پین تومان + ته ئی وپیژنه اوویی منه. (
داوو په پشائی ژبه کی د اوستا د ترکیبی کلمی ټکی په ټکی څیړنه او د هغې پشائی مانا او بڼه ئیزه پرتله.
د پنتمان د لرغونی اوستائی کلمی دوهم ډول په پشائی ژبه کی په لاندی ډول سره هم تر سره کیدای شې.
که چیری مونږد اوستا د لرغونی (پنتمان)د کلیمی د (ت) توری د (د) په توری واړوو په دی صورت کی اوستائی کلمه خپلی بڼی ته تغیر ورکوې او د( پنتمان) د کلیمی څخه د (پندمان) کلمه جوړیږې ،ښائی د زرګونو کلونو د تیریدو په بهیر کی به دا نوم د( پینتومان) څخه به په (پینتمان) یا برعکس په( پیندمان ) اوښتی وې ،چی اوس ئی دا شکل په پشائی ژبه کی څیړو.

پیندمان:
دا نوم په پشائی ژبه کی هم له دوو ټوټو څخه ،له دوو مصدرونو د (پینیک = پیژندل )او د (منیک = منل )له افعالو څخه په لاندی ډول په لاس راځی ،چی ټول ګردان ته ئی اړتیا نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

لیدل کیږی او یوائحی یی فعلونه څیړو او څرنګوالی ته ئی پام کوو لکه:

۱ – د( پیند مان) د نامه لومړی برخه د (پین = وپیژنه ، ویی پیژنه ) فعل دی ،یا داچی که د( پین ) د کلمی سره د (د) توری او ور پسی د (ه)یا د (ا) توری ،چی غږیز توری دی ولیکو ورڅخه( پینده ، پیندا) په لاس راځی ،چی دافعلونه په پشائی ژبه کی د جمع مخاطب لپاره دی ،چی مانائی (ویی پژنئ) کیږی.

۲ –د( پیندمان) د نامه وروستی برخه ،چی د (مان)برخه ده د پشائی ژبی د (منیک = منل (له مصدر څخه په لاندی ډول په لاس راځی . د (مان – من ) کلمه یو فعل دی د مفرد مخاطب لپاره ،چی د( ویی منه)مانا لری . اوس که مونږ دا په لاس راغلې د (مان– من) فعل د (پیندمان) دنامه د لومړی برخې سره یو ځای ولیکو نو په ګډه سره به ئی ښه او مانا داسی وې .(پیندا ،پینده + مان،من = پیندا مان«پینده مان») ښی په لاس راځی ،چی په دی ځای کی د «ا» او د «ه» توری ،چی غږیز توری دی ،چی ددوو بی غږو تورو په مینځ کی ځان راښکاره کوې او پرته له شکه د (پیندمان)څخه د (پینده مان) ترکیبی کلمه لاس ته راځی ،چی مانائ (ویی پیژنئ ویی منی)کیږی ،چی د( پیندمان – پینده مان– پیند امان) شکلونه د اوستائی نامه (پینتمان) سره ښه څنګ لګوې ، داوو په پشائی ژبه کی د اوستا د (پینتمان)د کلمی څرنګوالې.
اوس د پنتمان د کلیمی دریم ډول په پشائی ژبه کی په لاندی ډول سره څیړل کیږی:

۳ –که چیری مونږ د (پیندا مان)د نامه څخه د «ی» توری وغورځوواو په پای کی د «ا» د توری پر ځای ورسره د « ی» توری ولیکو ، ورڅخه به (پند، پندی )په لاس راشې ،چی (پند)په پشائی ژبه کی (لار= راه) ته وائی او «پندی = لاره یی» . او که چیرته د (پیندامان) د نامه له دوهمی ټوټې څخه ،چی د (مان) برخه ده ورڅخه د « ا» توری وغورځوو،نو ورڅخه د« من» کلمه په لاس راځی ،چی په دی صورت کی« من » د

(c) ketabton.com: The Digital Library

پشائی ژبی د یوه ژوندی مصدر( منیک =منل= قبول کردن،پزیرفتن) څخه د (من =ویی منه =قبول کن، بپزیر) مانا لری ،که اوس مونږ دا په لاس راغلی نومونه یو د بل سره څنګ پر څنګ ولیکو،نو ورڅخه دا لاندی ډول په لاس راځی.

پندې = لاره یی + من = و منه
پندی + من = پندی من = لاره یی ومنه
په پشائی ژبه کی برسیره پر لوړو نومونو داسی کلمات هم شته ،چی مانائی یو ډول ده خو تلفظونه ئی سره توپیر لری لکه: ( پند، پنده ،پندو ،پندیا)،چی ټول د لاری مانا ورکوې
په دری ژبه کی د «پند» کلمه هم په همدی مفهوم موجوده ده لکه ،چی وائی (پند و نصیحت.(
د کلماتود لوړی تجزیی څخه دا په ډاګه شوه ،چی د« پندی من» پشائی ترکیبی کلمه ده ،چی تر نن پور ی د پشائی ژبی ویونکی یی په همدی تلفظ سره په خپلو ادبیاتو کی لری ،چی دا نوم تر اوسه پوری د هندوستان د هندوانو په دیانت کی د (پندو او پندت)په بڼه اوریدلی شو ،چی د اسلام په دیانت کی نوموړی هندی نوم د «ملا» دکلمی سره پوره اړخ لګوې ،چی په دواړو دیانتونوکی د ( دینی لارښود )مانا او مفهوم رسوې ،نو له دغی سپړنې څخه دا پوره په ډاګه کیږی ،چی د پشائی ژبی د (پندی من«مان») ترکیبی کلمه د اوستائی نامه د (پنتمان)او د هندی دیانت د (پند ت ،پندو) سره ښه ښایسته څنګ لګوې او دا راپه ګوته کوې ،چی لا د پشائی ژبه لرغونو آریائی مشهورو مذهبی نومونو ته ،چی په آریائی لرغونو مذهبی کتابونو کی د معجزاتو په بڼه پراته دی د لرغونو آریائی ژبو پوهانو او څیړونکو د څیړنی لپاره یوه ستره دروازه پرانیزی او هغوی ته دنوو زړه پورو څیړنو لپاره د امیدونو نوی لارښوده ډیوه بلوې.
دا وو په پشائی ژبه کی د لرغونې اوستا د لرغونی نامه د (پنتمان) د ترکیبې نامه په دری ډولونو سره څیړنه ، اوس په لاس راغلې دری واړه ډولونه د هغوی د مانا سره لیکو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱ –پینتمان (پین تومان) = ته یی وپیژنه ویی منه (ویی پیژنه ویی منه.(
ب– پیندا من (مان) =ویی پیژنئ ویی منې.
ت– پنده (پندی) مان(من) = لاره یی ومنه.
اوس چې مونږ د لرغونی اوستائی نوم د(سپنتمان) نوم په (پنتمان) باندی واړاوو، هو د هغی د «س» توری مو د یوه نسبتی تورې په توګه د (زراتشترا)د نامه سره وتاړه او ورڅخه (زراتشتراس)جوړ شو ،مونږ ته یواځی او یواځی د (پنتمان)ترکیبی نوم په لاس راغی او هغه مو د پشائی ژبی له پلوه و څیړه او په دریو ډولونو سره مو په اوسنۍ ژوندی پشا ئی ژبه کی په لاس راوړ او هغه مو مانا هم کړ ،بنائی ،چې اوس د (پنتمان)د ترکیبی کلیمې دری واړه په لاس راغلی پشائی ماناوې د (زراتشتراس)د مانا سره یو ځای ولیکو او د (زرتشتراس په زراتشتراس = دزرو خوړونکې ستوری
پنتمان) د ترکیبی نوم مانا او پرتله د اوستائی نامه سره تر سره کړو ،او مانا او مفهوم ته ئی ځیر شو او وګورو ،چې په لاس راغلې پشائی مانا ګانې او مفاهیم څومره ښکلی او زړه پوری دی ،پام ورته وکړې.
لومړی د( زراتشتراس )او وروسی د (پنتمان )د کلمو څخه په لاس راغلی شکلونه او د هغوی ماناوې او مفاهیم یو د بل پسی لیکو او بیائی سره په پرتله کی وینو.
۱ –زراتستراس = د زرو خوړونکې ستوری.
زراتستراس = زرو ته ننوتونکی ستوری.
اوس د ( پنتمان ) د نامه پشائی ماناوې لیکو:
۱ –پین تو مان (من) =ویی پیژنه ویی منه.
۲ –پیندا من(مان) = وییپیژنه ویی منه.
۳ –پنده من (مان) =لاره یی ومنه.
اوس که مونږ د زراتشتراس او د پنتمان د ترکیبی نومونو ماناوو او او مفاهیمو ته پام واړوو ،پوهیږو ،چې په نوموړو نومونو کی د خپل وخت ډیر پاک او سپیڅلې ،مقدس او زړه پوری ماناوې او ډیر ادبی مفاهیم ،چې د دینی او مذهبې مفاهیمو پوری اړه لری پکی لیدل

(c) ketabton.com: The Digital Library

کیږي او ورسره یو ځای اوستائی مفاهیم او د هغی تعریفونه په کی ښکاره کیږي.
راځی ،چی اوس نوموړی اوستائی ترکیبی نوم په پشائی ژبه کی د هغی د ماناوو سره ولیکو او ورته پام وکړو ،چی څومره دا نوموړی ترکیبی کلمه یو د بل سره په بڼه او تلفظ او همدا ډول په مانا او مفهوم کی یو د بل سره ورته یا د یو او بل څخه وړاندی دی.
زراتشتراس + پنتمان =زر اتشتراس پنتمان . مانائی داسی ده (دزر خوړونکې ستوری وپیژنه ویی منه.(
د نوموړو ترکیبی کلمو لومړنی مانا داسی شوه.
۱ –زراتستاراس پین تو مان (پینتمان) = د زر خوړونکې ستوری ته ومنه او ویی پیژنه.
اوس ئی دوهمه مانا ګورو:
۲ –زراتستراس(زراتستاراس) + پیندا من = زراتستراس پیندامن( پنده من) = (زروتهننوتونکې ستوری وپیژنئ وئی منئ.(
اوس یی دریم ډول او مانا لیکو:
زراتستاراس.

پنده مان:
زراتستاراس + پنده من( مان) = زراتستاراس پنده من = دزرین ستوری لار ومنه ؛ یا: د ځلانده رانِه ستوری ښوونه ومنه ؛ یا : دزرو په شان پاک او سپیڅلې ستوری لار ومنه.
که چیری مونږ په پشائی ژبه په لاس راغلی د (زراتستاراس پنده من )ترکیبی نوم ،چی د اوستا د کتاب ، لیکوال او مذهبی شخصیت پوری اړه لری په دری واړو ډولونو کی د اوستا د اصلی نوم (زراتشتراسپنتمان) په پرتله کی وګورو، دومره توپیر سره نه لری او دا به هر لوستونکی او اوریدونکې ته څرګنده شې ،چی د اوستا او د پشائی ژبی یو د بل سره هیڅ ډول توپیر نه لیدل کیږي . کیدای شی نوموړی اوستائی نوم ډیری نوری بڼی ولری ،چی ماناوی به ئی هم سره توپیر ولری ،خو بڼه به ئی د تل لپاره سره ورته وې ،چی دا کار د هم مخرجو تورو او دغږیزو تورو په اړولو را اړولو کی تر سره کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما په اند د پشائی ژبی له پلوه دریمه مانا خورا زړه پوری ده ،دا په دی خاطر ،چی په دریمه مانا کی د زرین (طلائی) ستوری برسیره د (لاری)او د (منلو) کلمی هم شته دی ،چی نوموړې کلیمې د(لارښوونې) مفهوم رسوی ،چی د اوستا ئی مانا او مفهوم سره پرته له توپیره ځان څرګندوې ،دا ځکه ،چی هلته هم د مذهبې پیا وړې لارښود او د نومیالې مبلغ ښکلې مفاهیم په کی نغښتی دی ، دا وو په پشائی ژبه کی دلرغونې آریائی اوستائی ترکیبی کلمې مانا او مفاهیم ،چی په دری واړو ډولونو کی مو ولیدل د پشائی ژبی په ادب کی ډیر ښکلی ،زړه پوری او د پوهی او منطق له مخی پر ځای اود منلو وړ دی ،چی زما له نظره د هغو ماناوو څخه یوه زړه پوری مانا ئی داده.

دځلاند زرین (طلائی) ستوری لار (طریقه) ومنهZaratashtaras pandh man.

)د ځلاند زرین ستوری لاره ومنه(

»اهورا مزدا«

»Ahuramuzda «

اهورامزدا (لوی ښبتن) دا یو لرغونی آریائی نوم دی ،چی د لرغونو زمانو څخه په آریائیانو کی په همدی نوم شهرت لری ،په اوستا کی نوموړی نوم به دی ډول سره یاد شوی دی.

)اهورا مزدا د لوی خالق نوم دی ،چی دا کلمه (اورمزد) هم نقل شوی او مخفف ئی (اورمز) هم ده ،په لومړې سر کې د (خداوند دانا او وجود اعلی )نوم و ،وروسته ئی ډیری مجازی معناوی هم موندلی دی)۱۶۸

همدا ډول د اهورامزدا د نامه په هکله د پوهانو نظریات یو د بل سره ورته ښکاری ،چی د یو او بل پسی ئی لیکو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګیګر آلمانی وائی :( چی اهورا مزدا د علم خاوند او د غیب او شهود مالک و،هر ځای د خالق تعالی نوم داسی په اوستا کی ذکر شویدی) ۱۶۸
)په هر صورت خو دا نوم د اوستائی ژبی یو مهم اسم دی او تر اوسه هم په پاړسو ژبه کی د اورمزد په ډول موجود دی .که مونږ دا نوم تحلیل او تجزیه کړو ،دری ټوټی دی ( اهور= اور) دوهم (مزدا)او په دی ډول دا دواړی ټوټی په پښتو کی ریښه لری )۱۶۸
)اوستائی (اهور ) د (هور) په شکل اوس په پاړسی ادب کی موجود دئ،چی معنائی نور ،لمر ده .ځکه چی هر وخت د اوستا (ه)به سکسکریت کی په (س) اوړی ،نو دا کلمه په سنسکریت کی سور او سوریا سوی ده ،چی لمر ته ویل کیږی) ۱۶۸
)په پاوسو کی د د اوستا (ه٠ په (خ)هم بدلیږی ،لکه د مخه هم ویل سوی دی ،نو دغه کلمه (خور) هم سوه ،چی لمر ته وایی: دوکتور ګیګر هسی شرح ورکوې: چی یعنی لمر او نور چی د اهورا مزدا مخلوق دی ،د نورالانواز او ضیای مطلق په مفهوم هم وو )۱۶۹
)پخوانو انسانانو رڼا او نور مقدس ګڼل او احترام ئی کاوه ،ځکه نو دوی لمر په اسمان کی مقدس ګاڼه ،چی دنور منبع دی او په مځکه کی یی بیا دنور منبع (اور) باله ،او مقدس ئی ګاڼه ،لکه په ویدا او اوستا دواړو کی د اور په نمایندګی ارباب لانواع شته ومثلآ د ویدا یو مشهور رب ا لنوع (اګنی)یعنی (اور)دئ ،چی ددوی په عقیدئی لمر،بریښنا او اورددی بدنونه دی ،او د رڼا او اورد تقدیس عقیده په اوستائی آریائیانو کی هم وه) ۱۶۹ ګیګر وائی: (په مځکه کی دټولو رڼاوو مرکز(اور٠دی او بیله اسمانې رڼا دلته د هری رڼا منبع (اور ) ګڼل کیږی،خکه نو پاک شی بلل شوی دی او د اسمانی رڼا منبع (لمر) هم د مزدا د ابدی رڼا نمینده ګڼل کیدی)۱۶۹ (دغه داهورا یا هور یا اور کلمی دی،چی (و) یی په (ی) اوښتی او (هیربد) ځنی جوړ شویدی،چی اصلآ باید (هوربذ —اوربذ ) وی.هوربذ د زردشت لقب دی او معنا ئی ده د (اور خدمتګار) یا د (اور مشر)عربو دا کلمه (هربذ) کړه ،چی جمعئی (هرابزه)ده علامه خوارزمی وائی دا د فرس پهلوی لغت دی او معنائی خادم النار او عبدا لنار ده)۱۶۹
)پوهان وائی :،چی په ویدا کی (ورن)یو رباا لنوع دی وچی دغه کټ مټ د یونانیانو د

(c) ketabton.com: The Digital Library

(اوريناس) او د اوستا (اورمزد) دی او ددی نوم ماده او عنصر هم (ور) ده . ۱۷۰
)نو که دی کلمو ته سړی ځير شی ،لومړی جزوی دغه پښتو (اور) دی ،(
ور=اوری=اور)،چی دايران دهخامنشی دوری دزړې باړسيپه کتيبو کی هم (اورمزد )راغلی دی )۱۷۰
)نوکه ددغه لغوې تحليل له رويه تاريخی مواد هم په نظر کی ولرو او د اوستا د (اهوره مزده )معنا وکړو ،بايد داسی ووايو (نمنځلی اور)يا (مجلله رڼا)يا د (عبادت وړ رڼا) چی زات واحد لا شريک دی «الله نوراسموات والارض»)۱۷۰
)ددی کلمی اوستائی ترکيب هم د پښتو سره سم دی ، ځکه (مزدا)چی صفت دی پر اهورا موصوف د مخه دی ،په دی ډول (مزدا اهورا )،چی له دغه ځخهئی هم پښتو ته نږديوالی ښکاری)۱۷۰
اهورا مزداAHURAMUZDA
په پشائی ژبه کې

دا چی اهورامزدا يو لرغونې آريائی نوم دی ، په اوستا کی هم دا نوم په همدی نامه يادیږی . د اهورامزدا دنامه په هکله د څيړونکو پوهانو نظريات يو او بل ته ورته او نږدی ښکاری او د اهورا مزدا نوم د(لوی څښتن ) نوم بولې ،وائی چی په فارسی کی نوموړی نوم د (اورمزد) په بڼه ياد شوی دی اود (خداوند دانا او وجود اعلی)په نامه معنی شويدی او وروسته ئی ډيرې مجازی معناوی هم موندلې دی.لکه ګيګر المانی چی وايی : (اهورا مزدا د علومو خاوند اود غيب او شهود مالک وو.(
د نوموړی کلمې په هکله ويل کيږی،چی د اوستا د (اهورا)نوم په فارسی ادب کی د(هور)په بڼه موجود ه وه،چی مانايی (نور،لمر)دی او په سنسکريت کی د (هور) کلمه د (سور) په بڼه موجوده ده ،دا ځکه چی د سنسکريت د (س) توری په اوستا کی د(ه) په توری اوښتی دی يا برعکس .د سنسکريت د (سور يا سوريا) کلمه په اوستا کی د(هور) په شکل او په فارسی کی نوموړې کلمه د (نور – لمر )په بڼه موجوده ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په هر حال د اهورا مزدا د نامه په هکله مونږ اوس د پوهانو په ورکړل شوو نظریاتو پوهیږو او دا راته جوته سوه ،چی (اهورامزدا) د(خالق-خدای )د نوم په توګه په اوستا کی یاد شوې دی . دا چی د (اهورا مزدا)په یوه یا بل ډول سره موجوده وه او د زمانی دتیریدو په بهیر کی یی د(اهورا یا هور)کلمې له یوه ډول څخه وبل ډول ته شکل ته تغیر کړیدی د بیلګې په توګه : پوهان په دی عقیده دی ،چی د اوستا د (هور) کلمه په سنسکریت کی د (سور یا سوریا) په بڼو او د ویدا په کتاب کی د یوه مشهور ربالا لنوع( اګنی)په بڼه موجود وه.

اوس غواړم د (اهورا مزدا)د اوستائی نامه په هکله په پشائی ژبه کی څه نا څه توضیحات د خیږنی او برتلی په اړانه کی ښاغلو ژب پوهانو ته وړاندی کړم.

دا چی په لرغونی آریائی ژبه( آریک) کی د پشائی ژبی ژوندی کلمات مونږ تر لاسه کړل او پری وپوهیدو ،چی پشائی ژبه هم د لرغونو آریائی ژبو د ډلی څخه شمیرل کیږی ،مخکی مو د سنسکریت د (سور) د نامه په هکله یو څه مالومات وړاندې کړی دی ،چی د هغی سره په څنګ کی د (سور) نړم د کاې په ژبه کی ،چی هغه هم یوه لرغونې آریائی ژبه ګڼل شویده هم رڼا واجوله او د پرتلی په پایله کی دا څرکنده کړه ،چی په کاسی ژبه ،سنسکریت او په پشائی ژبه کی په ترتیب سره د (شوریاس،سوری او سوریس)په بڼو د (سور)لرغونې آریائی نوم موجود دی ،خو په اوستا کی نوموړی نوم د (اهور یا هور)بڼه ئی ځانته غوره کړیده ،چی په پښتو ژبه کی د (لمر) اوپه دری ژبه کی د (افتاب) او په پشائی ژبه کی کټ مټ د (سور) په نامه لا تراوسه پوری ژوندی دی او د پشائیانو په ورځنی ادب کی په ژوندی بڼه ژوندی دی.

په دی ځای کی زه غواړم د پوهانو دغه نظریه ،چی وایی :په( ویدا کی ( ورن) یو رب النوع دی ،چی دا کټ مټ د یونانیانو د (اورنیاس )او د اوستا (اورمزد)دی ) ۱۶۹

غواړم د پوهان د لوړې نظریی په رڼا کی د اورمزد او اهورا مزدا نومونه ،چی د ویدا د (ورن) او د یونانیانو د رب النوع (اورنیاس)سره یو شانته ګڼل شویدی د پشائی ژبی له کبله ئی توضیح کړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په پشائی ژبه کی د (اهورا مزدا ) اوستائی کلمه یوه ترکیبی کلمه ده ،چی له دریو ټو ټو
څخه جوړه شویده.

–لومړنی ټوټه یی د (اهور) کلمه ده ،که چیری مونږ د(ه) توری ورڅخه لیریکړود(اور)
کلمه په لاس راځی د پشائی ژبی له پلوه د نوموړې کلمې د(و) توری د (پیښ) درلودونکی
دی او د (و) توری د (ه) توری ته نږدی اواز ورکوې په وخت کی د دوو (واوونو)اواز
ورڅخه پورته کیږی .نوموړې کلمه په پشائی ژبه کی د (اوریک =پاڅول ، ویښول ،له
خوبه پاڅول )له مصدر څخه په لاس راځی،چی ځنی پشائیان دا مصدر د (ووریک)په
ډول هم تلفظ کوې ، د پشائی ژبی د ګرامرې قاعدې سره سم دا لاندی افعال ورڅخه په
لاس راځی.

)اوریک –وریک = له خوبه پاڅول،پورته کول ،ویښول(

آ=زه او ریم (وریم(

تو= ته اوری (وری(

سی =هغه اورګا (ورګا(

امو =مونږ اوریس (وریس

ایمو = تاسې اوریدا ( وریدا(

تی =هغوی اورین (اوریدا(

دنوموړی مصدرد مفرد مخاطب امری فعلونه دادی:

اور (وری) = پاسیږه ،پورته شه ، ویښ شه ،پورته شه

د جمع غائب لپاره امری فعل دادی:

اوریدا (وریدا) = پائیسوه،پورته یی کړه، ویښ یی کړه، پورته یی کړه.

د نوموړی مصدر څخه فاعلی صفتونه یی دادی:

اوروا (وروا) = پاڅیدلی ،ویښ شوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوروې(وروې) =پاڅیدلی ، ویښه شوې. او (اورنا) یا (ورنا) = پاڅیدنه ،ویښیدنه.
اوس ،چی مونږ د (اوریک،وریک) له مصدر څخه د هغه پوری تړلی فعلونه په لاس راوړل ،په ټولو افعالوکی د(اور ،ور)کلمه شریکه ده ،چی د مصدر د څټی او بنسټ څخه نمایندګی کوی.
د مفرد مخاطب لپاره د (اوریک ،وریک) له مصدر څخه د (اوریا، وریا) فعل د (پاییی څوه،پورته یی کړه ،ویښ یی کړه )مانا لری ،چی په خپل زات کی نوموړې کلمه دهیلې او غوښتنی په توګه سره خپله مانا څرګندوې لکه:
لطفآ محمود له خوبه پاڅوی (پورته یی کړې،ویښ یی کړې)،چی نوموړی فعل په خپل وخت کی د خدای تعالی یا د یوه بل ستر سړی یا کوم شخصیت په وړاندی هم د درناوې په خاطر په کار وړل کیږې.
دا چی اوس مونږ د اوستا د ژبی ( اهورا مزدا)د نامه لومړی ټوټه (اهورا) و (اوریا) په بڼه په لاس راوړه ، که چیری د پشائی ژبی د (اوریا) د کلمې څخه د (ی ) توری حذف کړو ،نو په دی صورت کی مونږ د (اوریا) څخه (اورا) په لاس راوړو ،څرنګه چی پوهیږو غږیز توری کله کله زیاتیږی او کله کله هم حذ فیږی په هرحال کیدای شې ،چی د اوستا په ژبه کی هم د پشائی ژبی په څیر د (اهورا) کلمه د (اوریا)په شکل په کار وړل شوې وی ،یا بر عکس . خو مونږ د اوستا او پشائی په ژبو کی د نوموړی کلیمی یو شانته والی او کټ مټ والی د نامه په ریښه کی لیدلی شو ،یعنی دا چی په دواړو ژبو کی د (اور ) کلمه مشترکه ده ،بر سیره پر دی ،چی په اوستا او پشائی ژبو کی نوموړی کلمه سره یو شانته ده ،همدا شان د (اور) کلمه د ژب پ وهانو له نظره په (ویدا) او د یونانیانو په ژبه کی هم یو دت بل سره شریک دی .او د (اور) کلمه په خلورو لرغونو آریائی ژبو کی سره مشترکه ده او د (اور) د کلیمی ریښه لری،چی په پشائی ژبه کی د (اور) دکلمی ژوندی مصدر تر اوسه پوری په پشا ئیانو کی په پراخه پیمانه سره په کار وړل کیږی . که چیری د (اور —اوریا)کلمو مجازې معنا ته په پشائی ژبه کی ښه ځیر شو ، د خا لق تعالی مانا او مفهوم تری په ډاګه کیږی ، دا ځکه، چی ددینی عقایدو له مخی (پاڅوونکی ،ویښوونکی اود کائناتو هست

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوونکی)او په ټوله کی د مخلوقاتو پالونکی هم هماغه لوی ښتن تعالی دی ،چی فاعلې صفت یی په پشائی ژبه کی (اوریکالا = پاښوونکی ، ویښوونکی، پیدا کوونکی او ژوند ورکوونکی ....... ) ټول په خپل اصل کی د (لوی ښتن تعالی) ماناﺍو مفهوم افاده کوې.
برسیره پر لوړې توضیح د پشائی ژبی د ( اورن ) کلمه د (ا) په پیښ د (اوریک =پاښول ،ویښول ..) له مصدر ښخه د جمع غائب د فعل د راتلونکې زمانې (پا به ښیږې، ویښ به شې...) یوژوندی فعل دی ،چی په نوموړو ماناوو په کار وړل کیږی ،چی ښوک یی د (اورن ،هورن ، ورن) په بڼه تلفظ کوې ،چی مانا او مفهوم یی سره یوشی دی ،یواځی توپیر یی د تلفظ په وخت کی ښکاره کیږی ،چی دا ټوله سره مشابه تلفظ او یوه مانا ورکوې ،دا چی تر دی ځایه پوری مونږ د اوستا د زمانې د (اهورا )نوم توۡضیح او تشرح کړ او پری وپوهیدو ،چی دا نوم د لرغونې آریائی ژبی یو ژوندی نوم دی او د یوه ژوندی پشائی مصدر ښخه په لاس راځی ،ښائی ،چی ښاغلی هندو اروپائی لرغونی ژب پوهان دا راسره ومنی ،چی نوموړی تاریخی نوم د پشائی ژبی پوری اړه لری دا ځکه ،چی دا نوم د پشائی ژبی یونوم دی.
اوس ،چی مونږ د اوستا د (اهورا) په پشائی ژبه کی د (اوریا ، وریا ،اهورا ،اورا )په بڼو په لاس راوړ او پری وپوهیدو ،چی پرته له کوم واوه شکه دا نوم د پشائی ژبی پوری اړه لری ،مانا ئی داده.
)اوریا – هوریا = پایی ښوه ،پورته یی کړه ،ویښ یی کړه ،هست یی کړه(
داهورامزدا د اوستائی نامه دوهمه ټوټه (مز)په پشائی ژبه کی د ښیړنې لاندی راولو.
ښرنگه ،چی پوهیږو د بی غږو تورو سره غږیز توری د هغوی د موجودیت او ښرگندیدو په خاطر په کار وړل کیږی ،د بیلگی په توگه ،که چیری مونږ د ( مز ) د کلمی تلفظ ته ځیر شو،نو د تلفظ په وخت کی مونږ د (م) د توری د تلفظ په وخت کی د (م) او د(ز ) تورو تر مینځ د یوه غږ ،چی د خفیفی (ه) یا (ا) اواز لری رامینځته کیږی او اوستائی (مز) د (مزا) یا د (مهز)په ډول اوریدل کیږې ،چی د (مهز –مزا) کلمه په پشائی ژبه کی د (اجوری– خوند ) په ماناوو دی ،چی په پښتو او دری ژبو کی هم همدا مانا او مفهوم

(c) ketabton.com: The Digital Library

رسوي.
ځرنګه ،چې مخکې وویل شول د غږیزو تورو په مرسته سره ،بې غږه توری خپل ځان ځرګندوي ،اوکه مونږ د (مز) کلمه د (دا ) د برخې سره ،چې د( اهورا مزدا ) دنامه دریمه برخه جوړوي ورسره یو ځای ولیکو .بی هم د (ز) اود (د) د بې غږو تږرو تر مینځ بنائی یو غږیز توری وجود ولری . که چیری مونږ د (ز) د توری سره د (ه• یا د (ا) توری ولیکو ورڅخه د (مزه) یا(مزا ) نومونه جوړیږي ،چې په پشائی ژبه کی د (مزه – مزا) نومونه دواړه د (خوند –لزت– ژوند او هستی )مانا او مفهوم افاده کوي ،ځرنګه ،چې د( اهورا مزدا) یا (اهورا مزادا) ترکیبی اوستائی نومونه یو مذهبی او دینی کلمه ده ،په دی ځای کی غواړم ،چې د (مرا) دنامه د څو ماناوو څخه یواځې د (ژوند، هستې خوند ) مانا واخلم ، یعنی:

)مزا = ژوند ،هستی ،خوند(

–د( اهورامزدا) د اوستائی ترکیبنامه دریمه برخه د (دا )کلمه ده ،چې نوموړې کلمه په پشائی ژبه کی د (دیک =ورکول = دادن )له مصدر څخه په لاس راځی ، په لاندی ډول:

)د یک = ورکول = دادن(

دیک = ورکول =دادن

آ = زه دیم = ورکوم

تو =ته ( دیا ، دا) ورئی کړه

سی =هغه د یګا = ورکوي د یکالا = ورکوونکی

امو =مونږ دیس = ورکوو

ایمو = تاسو دیدا =ورکوئ

(c) ketabton.com: The Digital Library

تی = هغوی دین =ورکوی

په پشائی ژبه کی د (دا ،دیا)کلمه ددوهم شخص لپاره د حال زمانې فعل دی ،چی مانا ئی داسی ده.

)دا ، دیا = وریی کړه(

اوس که مونږ د( اهورا مزدا ) دنامه لوړی په لاس راغلې ټوټې یو د بل سره څنګ پرڅنګ ولیکو او ورسره دریمه په لاس راغلې ټوټه ،چی د (دا ،دیا)برخه ده سره غاړه په غاړه کړو مونږ ته دا لاندی اوستائی او دهغې مانا اومفهوم په خورا ښه قالب کی را ښکاره کوې ،چی اوس ئی په لاس راغلې ټوټی د ماناوو سره یو ځای لیکو او بیائی مانا ور لیکو پ لاندی ډول:

آهورا – اوریا =پایی څوه –پورته یی کړه –له خوبه یی راویښ کړه.

مز – مزا = ژوند ،خوند ،هستی.

دا–دیا = وریی کړه (ورکړه.(

آهورا + مز ،مزا +دا ،دیا = پایی څوه ،خوند ،ژوند ورکړه.

اوس که مونږ د اوستا د (اهورا مزدا )ترکیبی کلمه د پشائی ژبی د ترکیبی کلمی (اوریا مزا دیا )د په لاس راغلی نوم سره د شکل او تلفظ له مخی په پرتله کی وګورو،نو ډیر لږ توپیریی په غږیزو تورو کی لیدل کیږی او تلفظ یی هم همدا ډول دی ،چی د تلفظ په وخت کی یو ویونکی ورځخه یو مفهوم اوبل اوریدونکی ورځخه یل مفهوم اخلی یایی هر څوک په خپل ډول سره تلفظ کوی ،چی یو د بل څخه توپیر لری ،خو تلفظونه او مانا ګانې یی په نهائی تحلیل کی سره ورته او خورا نږدی دی . یعنی دا چی په دواړو پشائی او اوستائی ژبو کی سره ورته تلفظ لری او مانائی هم په مجازی ډول کی د اوستا د (خدای تعالی )سره هیڅ توپیر نه لری دا ځکه چی خدای تعالی (پاڅوونکی، ویښوونکی، ژوند او هستی ورکوونکی) دی. دلته د نوموړې کلمی مانا اومفهوم د اوستا د (اهورامزدا)د ترکیبط

(c) ketabton.com: The Digital Library

نامه سره هڅوّيڅ ډول توپير نلري.
داوو په پشائی ژبه کی د اوستا د (اهورا مزدا)دنامه په اړوند سپړنی ، اوسيی نوری بيلګی ګوروو.
اوريا مزا ديا =پايی څوه ،ويښ يی کړه ،ژوند او هستی ورکړه
يا:
هوريا مزا ديا (دا) = پايی څوه خوند او لزت ورته ورکړه.
يا:
آ هوری مزا ديا = هوکی پايی څوه خوند او لزت ورکړه.
چی پکی ټول د خالق تعالی صفتونه نغښتی دی لکه:
پيدا کوونکی ،پاڅوونکی، ژوند ورکوونکی او خوند او لذت ور کوونکی دا ټول صفات د لوی خدای پوری اړه لری.
دا وو په پشائی ژبه کی د آوستا د (اهورامزدا) اود پشائی ژبی د (اوريا مزا ديا)د نومونو په پرتله کونه او مانا کوونه کی ما لومات او شننه.

واره(واړهvara )

دا لرغونئ آريائی نوم چې د آوستا په کتاب کې راغلی دی د تاريخی او ادبی پلوه خورا د اهميت وړدی دزمانی د تيريدو سره سم ئې نوم يو پر بل اوښتی دی ،د تاريخ په اوږدوکې د نووادیانو،کلتورونو او نووفرهنګونوتر اغيزې لاندی راغلې اودنامه مانا او مفهوم ئی هم ور اړولې دی لکه د يو چا په غاړه چې دنورو رنګونوجامې ورواغوندی ،چې کله ئې خيره وراړوی که څوک ناخاپی ورسره مخ شی نو داسې ورته ښکاری چې دا کوم بل څوک دی که نه نو دا هماغه څوک وی چې تش ئی جامې نورې وی،که نه نو مانا او مفهوم ئی هماغه وی کوم چې وو،خويوائی په مفاهيمواو صفتونو کې يی توپير را د بره کيږی چې دا توپير مونږ همدلته د(واړه)په نامه کې په څرګند ډول ليدلی اوکتلی شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دپورتنئ توضیح څخه زما مقصد دادی ،چی داوستا لرغوني کلمه «واره» ښائی د (ړ)توری ولری، یعنی (واره) به (واړه)وی،وروسته به څیړونکو د (واره ) په ډول لیکلې وی ،دا ځکه چې اوستا یوه لرغوني آریائی ژبه ده اوپه هغې کې باید لرغونی خصوصیات ډیر ولیدل شی اود(ړ)توری باید د هغی داصلی تورو څخه وی ځکه چی د(ړ)توری په سنسکریت کی هم موجود دی.

زما نظر دادی ،چی څیړونکو به د خپلې ژبی د خصوصیاتو له مخې،چی اکثرا ئی اروپائی پوهان دی هغویو به د(ړ)توری د نه درلودلو په خاطرد (واړه) کلمه به د (واره) په شکل لیکلی وی او د نورو پوهانو لپاره به ئی همدا شکل غوره ګڼل شوی وې.

ددی کارد شننې لپاره غواړم لومړی د پوهانو او څیړونکوتاریخی اندونه او دنامه دماناګانو په اړوند،چی هغویو توضیحات ورکړی او تشریح کړې یی دی یودبل پسی ولیکم او وروسته د هغې نوی نظر او دهغې پرتله لوستونکو ته وړاندی کړم،چې لږ

صبراوحوصیله غواړی خو دومره وایم که ئې تراخره پورې ولولې د تاریخ زړه مزه او خوند در په یادوی اودا دعوه به وکړې چې خدایږود(اوستا)دمقدس دینی کتاب اصلی ټاټوبې او د زردشت دپیغمبر د پیدایښت اصلی ځای هم همدلته زمونږ د لرغونی آریانا د ننی هیواد دګران افغانستان دهندوکش هاخوا او دی خوا سیمې دی.

واړه«واره» : ( دا کلمه هم ډیره تاریخی اومهمه ده،د اوستا په وندیداد کی دا نوم راوړی او داسی ښکاری ،چی په بخدی کی دا لومړئ ودانی ده ،چی «یما»د اهوره مزدا په امر جوړه کړه پخپله اوستا هسی وائی:

)تر ژمی د مخه په هیواد کی ډیر واښه ،د څارویو لپاره راشنه شول.او اوبو ښه خړوب کړل،نو اوس به تر واوری لویدو وروسته ای «یما» دونې نوکې ځای چې د پسه پښه پرایښنو کیږی،عجب ښکاره سې! نو ځکه ته یوه واړه جوړه کړه،چې د اسپ د سپرلود ډګر غوندی ئی هرخوا ارته وې.او هلته د پسو او غویواو سړیواو سپیواو مرغانو تخمونه او سور بریښیدونکی اور درسره یوسه!

نو له دی جهته ته جوړه کړه یوه واړه، چې د آس د سپرلو د ډګر غوندی ئې هر اړخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

وی،او دا ځای خلقو ته ټاټوبی وی، یوه واړه چی د آسپ د سپرلو ډګر غوندی یی هر اړخ وی ،د غویو او سړو لپاره هلته ته اوبه وبهووه په یوه واله کی چې یوه هاتره اوږده وی هلته ښائی چې ته مرغان په داسې چمن کښینوې،چې هیڅکله نه زمول کیږی،دداسی خوړو سره چې کورټ نه ناغه کیږی.هلته ښائی چی ته یو ټاټوبې ودان کړې چی یو کور وې د لوړی خونی غولی او دالانه سره!

هلته ښائې چی ته د سړیواو ښځو تخمونه یوسې،کوم چې ډیر لوی او خورا ښه اوغوره وی پرمځکه ،هلته ښائی چې د هر راز ژویو تخمونه یوسی، کوم چی ډیر لوی اوخوراغوره وی پر مځکه!

هلته ښائی چې د هر راز ونو تخمونه یوسی کومې چې خورا ښه خوند اوښه بوی لری. له دغو ټولوتخمو څخه ښائی چې ته دوه دوه له هره ډوله څخه یوسی ،او په ډیر زیار ئی خوندی کړې،ترڅو چې هغه سړی ټول په واړه کی هستوګن سې.

هلته نه ښائی چی ټیټی یا خیټو،یا لیښی یا لیونی؛یا بد خواه ،یا درواغجن،یا کین کښی رخن «حاسد»،یا وران غاښې،یا پیس استوګنه وکړی.......ددی ځای په لویه برخه کې ښائی چې ته نهه واټونه جوړ کړې ، شپږ په مینځ کی او دری نور په هغه کوچنی برخه کی ،د لوئی برخې په واټوکی ښائی ته زرسړی اوښځی واچوې، په منځنی برخه کی ښائی چې شپږ سوه وی او په کوچنی برخه کی ئی دری سوه ،ښائی چې دغه واړه په خپل طلائی مهر ټاپه کړې،او یو وراو یوه کړکی ورته جوړه کړې چې پخپله یو له بل سره ورځی ).(1)

نو یمایوه واره(واړه) ودانه کړه،چې د آس د سپرلو غوندی ئی هراړخ و،او ده هلته دپسواو غویواوسړیو او سپیواو مرغانوتخمونه اوځلاند سور اور یوړ،ده جوړه کړه یوه واره د سپرلو د ډګر په شان د سړیو د ټاټوبی لپاره او یوه واره د سپرلو د ډګر په شان دسړیو دټاټوبی لپاره او یوه واره د سپرلو د ډګر په شان د غویو اوپسو لپاره)!(2)

هلته ده دسړیو او ښځوتخمونه یوړل،کوم چی پر دې مځکه خورا لوی اوخورا ښه او غوره وو،هلته ده د هر راز څارویوڅخه چې پر دی مځکه خورا لوی اوخوراښه اوغوره وو، یووړل .هلته ده د هر راز ونوڅخه چې ډیرې جګې اوښه بوې لرونکی وې تخمونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کیښبوول .هلته د هر راز میوو څخه چې ډیرې خوندوری وې تخمونه یوړل .له دغو ټولو تخمونو څخه ده دوه دوه یوړل او په زیارئی هلته وسا تل تر څو چې دغه واړه په سړیوودانه سوه) .(3)

د «وارې– واړې» د جوړښت په اړوند نورې زړه پورې خبری هم د پښتو د ادبیاتو په تاریخ کی شته دی چې داوستا د کتاب څخه را اخیستل شوې دی ،چې دلته ئی دیوۍ ټوټې په را اخیستلو بسنه کوم لکه:

)بیا نو «یما» دغسې وکړه،لکه اهورا مزداچی ویلی وو؛څمکه ئی په پښو وخرله او پخپلو لاسویی ختې جوړه کړه،لکه دلوښوختې. نو یمایوه واره ودانه کړه ،چې د اس دسپرلو د ډګر غوند ې ئی هر اړخ ؤ،او ده هلته د پسواوغویواوسپیواو مرغانو تخمونه او څلاند سور اور یووړ،ده جوړه کړه یوه واره دسپرلو د ډګرپه شان دسړیو دټاټوبی لپاره او یوه واره دسپرلو دډګر په شان د غویو او پسو لپاره! )(4)

)وایی چې یما دغسی وکړه، چې امر ورته سوی ؤ،څو چی واړه ودانه سوه)(5)

)په دی ډول اوستا د واره د ودانولو نقشه مفصله کاږی،او لدی څخه داسی ښکاری چی یما د اهورامزداپه ښوونه واره جوړه کړې او په هغه کی ئی د مدنیت لومړی اساس ایښی ؤ.

واره په بخدی کې وه،او تر اوسه ئی هم اثارد نوبهار په نامه سته،هغه وخت چی د یما په دغه تاریخی ټاټوبی کې زردشت راو پاڅیدئ،نو دده ددریو زامنو څخه یو چې یوروتاندره نومیدئ«وار مشر»ټاکل سوی ویعنی واره مشرTemporal lord of the Vara .

)په سنسکریت کی له دغې ریښې څخه ډیر کلمات جوړ سوی دی مثلآ واړ یعنې محوطه ، ځای د هندوانو د ستی کولو ځای واړه د ښار څلورمه برخه ،یو ځای چې د هری طبقې خلک پکی اوسی .واړی محوطه غولی دربار باغ.

د سنسکریت (واړه)د اوستا له( واره )سره هم په تلفظ او هم په معنا کی یوه ده ،او دا یوه آریائی پخوانۍ کلمه ده ،چې وروسته په بودائی دوره کی (وهار)سوه ،څکه چې دغه د بخدی (واړه)هم وروسته د یوه معبد په ډول د زردشتی دین کانون او مرکز وه نو هغه وخت د زردشت اتباع ورک سول.او دده دین له مینځه ولاړ،نو پر پښتونخوااو باختر د بودائی

(c) ketabton.com: The Digital Library

دین ځیې راغلې،او افغانستان د دغه دین مرکزسو،بامیان ئی د بتخانو او معابدو ډک ځنو هغه د اوستا واره چی د زردشتی دین معبدوه ،اوس د بودائی دین کانون سوه.او هغه لوړاو جګ بیرغونه، چې د بخدی ښار ئی په نامه یادیدئ د«لوړو بیرغوښکلې ښار»اوس د بودا د اتباعو لخوالوړ سول ،نو دوی د اوستا «واره» په بودائی اصطلاح«وهار» تبدیله کړه او هغه زردشتی اتشکده بتخانه سوه او دغه «وهار» ځچې وروسته بهار سو او په اسلامی دوره کی دغه د بخدی معبد «نوبهار»باله کیده ).(6(

نوی نظر:

د اوستا د متن څخه داسی ښکاری چې،(واره)د یوه ځای ټاټوبی او د یوه ستر حصارپه مانا دی دا ځکه ،چی په هغی کی د هستوګنی مفهوم پکی له ورایه نغښتی ښکاری .پوهانو هم د (واره ) کلمه په همدی مفهوم اخیستې ده.اوس چی د واره د کلمې په اوستائی مانا او مفهوم وپوهیدو ،غواړم نوموړی کلمه په پشائی ژبه کی د (واړه) په شکل کی تر څیړنې لاندی ونیسم.او هغه زړه پوری مفاهیم ،چی په هغې کی د آهورامزدا په امر سره د انسانانو ،ډول ډول حیواناتو ، الوتونکو او د نباتاتو دښه او غوره ډولونو راټولول او د هغوی ځای په ځای کول دی همدا ډول نوموړی ډولونه له ټیټی یا خیټو،لیټی یا لیونی ،بد خواه یا دروغجن یاوران غاښی، پیس......او نورو څخه د لیرې ساتل دی، څرګند کړم ،چی دا کار د پشائی ژبی د (واړه) د کلمې په وجود کی په لاندی ډول سره تر سره کیږی.

واړه په پشائی ژبه کی:

نوموړې کلمه «واړه»لرغونی آریائی نوم دی، چی د اوستا په کتاب کی راغلی چی، څیړنه ئی خورا زړه پورې ده دا په دی خاطر،چی د هغې د څیړنی په پایله کی مونږد یوې ژبې د لرغونی زمانې څخه را نیولې تر نن پوری د هغې ژوند او شته والې او حقیقت را برسیره کوولکه څوک ،چی یو ناڅاپه یوارزښتناکه غمی مینده کړی.دا چې اوس مونږ د «واړه»د نامه په هکله د اوستا د کتاب د قصې څخه څه نا څه دا درک کړه او پری وپوهیدو،چی (واړه)د انسانانو رنګارنګو حیواناتو،مرغانو د ښکلو او ښایسته بوټواو د خوش بویه او مزه دارومیوه لرونکو ونو د ډولونو د بقا څخه بحث کوی پری وپوهیدو، چی نوموړې کلمه په

(c) ketabton.com: The Digital Library

کل کی د« چاڼ اوسوچه توب » مانا ورکوی اوس ددی وخت رارسیدلی دی چی د نوموړي نامه مانا او څرنګوالي په لرغونی آریائی ژبه پشائی کی وڅیړو په لاندې ډول.
واړه په پشائی ژبه کی د(واړیک- چاڼول؛ غلبیلول) له مصدر څخه په لاندی ډول په یوه ګردان کی وینو.

واړیک:
پشائی پښتو فعل فعل
آ زه واړیم غلبیلوم امری فعلونه ئی: (واړ،واړه)دمفرد مخاطب لپاره.
-------------------------------------------
تو ته واړی غلبیلوې واړنا- غلبیلونه
سی هغه واړګا غلبیلوی واړوا- غلبیل شوی
امو مونږ واړیس غلبیلوو
ایمو تاسی واړیدا غلبیلوئ
تې هغوی واړین غلبیلوی

په پشائی ژبه کی د ( واړ،واړه )د امر فعلونه دی، چی مانا ئی (غلبیل ئی کړه؛ چاڼ ئی کړه)کیږې ،دا چی اوس مونږ د اوستا د« واړ- واړه » نومونه د پشائی ژبی په یوه ژوندی مصدرکی په لاس راوړل چې د شکل له مخی د اوستا د(واړه) سره هډو توپیر نلری او کټ مټ د یوې مورغبرګونی او یوشانته لوښی او د یوې سکی دوه مخه دی،دا چی اوس مونږ نوموړی نوم دشکل له مخی په لاس راوړ،نو د مانا او مفهوم له مخی که ورته ښه ځیر شونو د اوستا د تعریف څخه دا په ډاګه کیږی، چی د اهورامزدا د وینا سره چی (یما)ته لار ښوونه کوی کټ مټ یو شی دی او هلته ورته وائی ،چی د هر ډول څخه غوره او ښایسته او ښکلی او مزه داره راټول او (واړی- واړه)ته راټول کړه،چی په دی ځای کی د اوستا د(واړی-واړه) نوم او مفهوم د پشائی ژبی د(واړ،واړه، واړی) د شکل او مانا څخه هډو توپیر نلری او سره یو شی دی.همدا ډول دنوموړي مصدر څخه په لاس راغلی افعال لکه :

(c) ketabton.com: The Digital Library

(واړنا = غلبیلونه ) او (واړوا = غلبیل کړل شوی ) دا ټول نومونه د (واړه) دکلمی څټه جوړوې او دا په ډاګه کوې ،چی د (واړه) اوستائی کلمه په خپل قوت سره د پشائی ژبی د (واړیک) په مصدر کی ژوندی ده ،که مونږه هری لوری ته ولاړشو بیا هم د (واړیک) له مصدر څخه نشو وتلای اود (واړ) یا د اوستائی (واره) کلمه د پشائی ژبی د (واړیک)له مصدر څخه رازږیږې.

اوس نو دا ویلی شو،چی نوموړې کلمه اصلاً پشائی کلمه ده یا هم برعکس اوستائی کلمه ده . په هر حال داوو د اوستا د (واړی)کلمی په هکله چی مونږ ژوندی په پشائی ژبه کی وکتله او وڅیړله.

اوس دا په ډاګه وایم چې پشائی دا لرغونی آریائی ژبه (آریک) د (ویدا) او ( اوستا) د کتاب د لیکنې لا پخوا یوه ژوندی ژبه وه ،چی بیا وروسته د (اوستا) کتاب پری لیکل کیږی.

د بیلګې په توګه یو څو نور نومونه ،چی لا تر اوسه پوری په پشائی ژبه کی ژوندی دی لکه:

وار — نوبت؛واړ–ډبره...... اوډیر نور.

یادونه: یو بل لرغونې او خورا زړه پورې نوم چی لا تر اوسه پوری یو ژوندی نوم دی او ورته (واړه وان)وائی او دا ځای دلرغونی زمانی څخه تر ننه په خپل نوم ژوندی دی او دا ځای د کونړ ولایت د نورګل ولسوالی د توری تیګې په نوم سیمه کی ،چی د سیمې پښتانه دا ځای اوس د ګوچ په نوم نوموې،چی د شکل له مخی چار چاپیره یو د بل سره نختی غرونه دی او یواځی د ننوتو لپاره یوه لار لری،چی ته به وائی ،چی دا لاره یا دروازه چا په خپلو لاسونود ننوتلو لپاره جوړه کړی وی شته دی ،چی دا نوم د اوستا د (واړه وان یا واړه مشر)سره کټ مټ یو شانته دی.

## Temporal lord of the Vara

داوو د واړه د نامه څیړنه او شننه په پشائی ژبه کې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زمونږ د ګران هیواد لرغون پیژندونکی کولای شی دد غی نوې خیړنې په رڼا کی خپلو خیړنو ته ژوره کتنه وکړی اونوموړی سیمه له نږدی وګوری دنامه او ځای په هکله او د هغی د خصوصیاتواو د څرنګوالې په اړوند نوی څېړنې وکړی اودا نیمګړې څیړنه پوره کړی، ژب څیړونکو اوژب پوهانود نوو څیړنو لپاره لاره هواره کاندی.
دا د اوستا (واره) په اصل کې دپشائی ژبی (واړه – غلبیلول ، چاڼول)دی ،چې د نوموړې نامه توضیح او تشریح د اهورامزدا په امر کی چې پر( یما) ئی کړی دی ښه څرګندیږی ،چې د (واړی– واړه)مانا هماغه (غلبیلونه ، چاڼونه او سوچه کوونه ده ) نه کوم بل شی.
د اوستائی لرغونو نومونو د څیړنی او د پرتلې په لړ کی ، ښائی ،چی یو څونور لرغونی آریائی نومومونه هم یو دبل پسی وڅیړل شې تر څو د پشائی ژبې لرغونتیا پکی څرګنده شی لکه په دغو لانید ینیو اوستائی نومونو کی.

بخل( بلخ) بامیکBalkh Bamik:

ددی لپاره ،چی د ( بخل بامیک)د اوستائی کلمی په هکله د پشائی ژبی له پلوه څرګندونی وړاندی شې پر ځای یی بولم ،چی تر هر څه د مخه د پوهان نظریاتو ته پام وکړو او وروسته له هغی یی په پشائی ژبه کی تر څیړنې او شاربنی لاندی ونیسو.
جیکسن معروف مستشرق وایی : چی د ( اوستا یوه پهلوې نسخه په سمر قند کی پیدا سوې او د اتم مسیحې قرن ده ، په د غه نسخه کی راغلی دې ،چی ویشتا سپ زوی په بخل با میک کی د ( نوزاک ) ښار جوړ کړ ( ۱۸۰. (
ډار مستټر وائی :( چی( بامیک ) ددرخشان مانا لری او په اوستا او زند کی یی ریښه بامیه ده،چی ځلاند ته وائی ) (۱۸۰.(
د (بامې )د لرغونې کلمې په هکله داسی ویل کیږی :( له خورا قدیمی زمانی د بخدی یا بلخ ښار یو صفت له ځانه سره لرې ، چی دغه صفت په اوستا کی یو ځای سریرا یعنی( ښکلی) ذکر کیږې او وروسته هم دغه صفت بامیک یا بامی دی ،چی مانایی ځلاند ،یا

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښکلی ګڼله سوی او په پاړسو کی بلخ درخشان) (۱۸۰.(
اوس ،چی د بخل بامیک ،بامې او (سریرا ) د کلم په ګله وپوهیدو ،چی د بخل بامیک کلمه په لرغونی زمانه کی د ځای نوم دی ،بامی او سریرا د (ښکلی ) په مانا راغلی دی . غواړم د نوموړو کلمو په هکله د پوهانو د نظر یاتو په رڼا کی خپل نظر د پشائی ژبی له پلوه ښکاره کړم.
د بخل بامیک نوم په پشائی ژبه کی یو ترکیبی نړم دی ،چی له دریو ټوټو څخه جوړ شویدی.
۱ –د (بخل) نوم زمونږ دهیواد د ننی( بلخ) مزارشریف نوم دی ،چی پوهانو دا نوم هم (بخل)د (بلخ)په بڼه اخیستی دی

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**